
دانش خپرندویه ټولنه
نازنین
رومانتیک ناول
ژباړن: نذیر احمد سهار

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

نازنین

لیکوال:

امان الله وارسته

ژباړن:

نذیر احمد سهار

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم



کتاب پېژندنه:

د کتاب نوم	:: نازنین (ناول)
لیکوال	:: امان الله وارسته
ژباړن	:: نذیر احمد سهار
خپرندوی	:: دانش خپرندویه ټولنه
کمپوزر	:: ذبیح الله "شفق"
چاپ شمېر	:: ۱۰۰۰ ټوکه
چاپ نېټه	:: ۱۳۸۲ ل/۲۰۰۳ م

چاپ او کمپیوټر ځای

دانش کتابتون، قصه خوانی بازار، پېښور

Ph:2564513/E-mail:danish2k2000@yahoo.com

تړون:

د هغو بېوزلو مېرمنو په نوم،
چې د نازنین په څېر د حالاتو او
تېریو توپان د بدمرغیو غېږې
ته سپارلې او له ټولنې څخه
گوښه کړای شوې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یادونه:

د یوې داسې مېرمنې داستان، چې حالاتو او زیاتیو د بدمرغۍ او نیبو ګۍ ژوند ته اړه کړې. داستان یوه افغان لیکوال محمد امان وارسته لیکلی، چې پښتو ته ژباړل شوی دی. هیله ده په پیل کې مو پرې ګناهګار ونه بولئ.

درنښت

* * *

کله چې له ۵۱ نمبر اپارتمان څخه شپږم پوړ او دهغې وروستي منزل ته ورسیدم ، ملګري مې د وره تر څنګ زنګ ته فشار ورکړ، د وره له پاسه په میکروفون کې په پاسته غږ یوې ښځې وپوښتل:

څوك یاست؟

ملګري مې ځواب ورکړ " نازنین" زه یم " هوشنګ".

(غږ) اوه ! شاغلیه هوشنګ ناسویاست، راځئ.

ور په اتومات ډول زموږ پر مخ پرانستل شو، زه او ملګری مې " هوشنګ" دواړه باریك دهلیز ته اوبیا وروسته سالون ته ننوتلو، د سوکه او خفیف موزیك غږهم اورېدل کېده.

کرستل بلوري قندیلونو په مقبولو دیوالي څراغونو ټول سالون روښانه کړی و. سالون په کلاسیك ډول په کلاسیك سبك جوړ شوی و، او پر دېوالونو یې لغړې او وېروونکې څېرې راځړولې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دسالون تر څنګ د خوب لپاره تخت غوړېدلی و، چې په ډېرو ښکلو او په زړه پورې پردو پوښلی و او په سره څراغ ښایسته شوی و هڅه شوې وه. چې سالون په شاعرانه کچ او په همدې ترخ کې مهیج او په زړه پورې څرګند شي، په ټولیزه توګه یې لیدونکي ته څرګندونه کوله، چې د منزل څښتنه څه کاره ده.

ښایسته مېرمن چې په زړه راښکونکو جامو ښکلې شوې وه نژدې نیمه لغړه ښکارېده، په لنډ او بې لستوڼیو خت (کمیس)، په لوڅو اندامونو، نیم بربنډې سینې او سپینو بلورینو پنډیو یې تر هر څه وړاندې د سړي نظر ځان ته راښکلو.

پر شونډو یې د هوشنګ په لیدو سره نرۍ موسکارا خوره شوه، او په ځانګړي ناز له نیم څښلې پیالی سره چې په لاس کې یې نیولې وه، زموږ ښه راغلاست ته راوړاندې شوه، ماته یې لاس راکړ، ښه راغلاست یې ووې او پر څوکۍ یې د کښېناستلو نغوته راته وکړه.

هوشنګ سره له دې چې مست و او مخکې یې هم یو بوتل ویسکي څښلی و، له مېرمن سره یې د روغبړ پر مهال هم دهغې له لاسه جام واخست او پر سر یې واړاوه.

له ځانګړو نسبتاً تحریک کوونکیو خبرو او روغبړ څخه وروسته هوشنګ هغه مخاطب کړه:

و مې ویل: نازنینې! دا شاغلی زما ورور او څوکلن ملګری دی. نن شپه به ستاسو مېلمه وي.

نازنین پخپلو مخمورو سترګو د سوداګر په نظر وکتلم او ویې ویل:

"سترګې مې دې روښانه وي" صېب" خوښی مو راوړه. زموږ د غریبانو جونګړې ته".

ما پرته له څه ویلو په سرخوځولو ددې مننه وکړه، هوشنګ وخندل او ویې ویل مېرمن! دی ډېر شرمناك او دده په خپله وینا تازه کار او که سم ووایم دایې رومبی ځل دی، چې زموږ په ښار کې پل ږدي.

نازنین وخندل او ویې ویل: معلومه ده جناب! ټول نارینه رومبی ځانونه په مړه موږك اچوي او په اصطلاح د ناز پر ځای اوبډ وباسي، خو وروسته به څرګنده شي، چې څومره له اوبو هوښیار راوځي.

هوشنګ په خندا وویل:

نازنین دا ځلې شرط ترم، چې پخپله پریکړه کې تېروتې یې، تاسو ته په جدي توګه وایم، چې ډېر شرمناك او سر ټیټې زلمی دی.

نازنین په شوخۍ سره څرګندونه وکړه:

صېب! په دې ځانګه کې ما د ټولنې له ښوونځي څخه د ښوونکې ډیپلومه اخیستې، په ځانګړې توګه د انسان پېژندنې په ځانګه کې، زه شرط ترم هغه څه چې تاسو وایاست، د هغو په پرتله ښاغلی ډېر هوښیار دی. خو وي دې وبه لیدل شي، چې څه ګلونه کري.

هوشنګ وخندل او ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښه مېرمن ! نن شپه به ښاغلی ستاسو مېلمه وي او خواهش کوم، چې په ښه ډول یې پذیرایي وکړې. ستاسو ټول حساب له ماسره دی، سبا د وخته راځم، هغه درڅخه تحویلوم او باور لرم، چې نن شپه پرې ښه تېره شي او خاطره لرونکې وي.

مېرمن په خندا وویل:

سترګې مې روښانه " ونه پوهېدم، چې هغه سملاسي سبا بېرته اخلې، د بندیوانې دنده مو زما پرغاړه کښېښوه او هغه زما بندي دی؟

هوشنګ په خندا وویل:

تاسو داسې فکر وکړئ ، چې دی ستاسو له منګولو هسې ونه وځي، ستاسو په وینا هومره ساده هم نه دی.

مېرمن په شوخي سره ووې ډېر ښه ، ستاسو تر راتګه به یې په یوه کوټه کې قلف کړم.

هوشنګ په داسې حال کې، چې له ځایه جګېده وویل:

هر ډول، چې ستاسو خوښه وي- پوهېږم- دا یې وویل او زیاته یې کړه، چې زه نور ستاسو نه مزاحم کېږم، د دواړو لپاره د "ښې، ښې" شپې غوښتونکی یم.

ما غوښتل، چې معذرت وغواړم او دا کتنه یوې بلې ورځې ته وځنډوم، خو دې چلن مې ملګري ته بل تاثر ور کاوه او د نازنین پر وړاندې کم راته.

که څه هم پردې مهال له مانه جرئت وتلی و او پر ځای تینګ ناست وم، ومې پتېیله، چې د ملګري له تګ وروسته

به معذرت وغواړم، میرمن ته به د انعام په توګه روپۍ ورکړم او دا ځای به پرېږدم، سبا ته مې چې ملګری په نورمال حالت راوګرځي ورته وبه وایم چې له ده سره مې شوخي کړې او زه ددې چارې کړونکی نه یم . هوشنګ په داسې حال کې چې د ځان توازن یې نه درلود هر ډول چې و، خدای په امانې مو وکړه او په جدي توګه مې ورته وویل:

سره له دې، چې شپه ده او ګاډي کم دي، بیا هم پام کوه چې په مزه (سوکه) ډریوري وکړې.

په خندا یې وویل: فکر مه کوه ، زه په خپل کار کې وارد یم ، په داسې حال کې چې خنډل یې ، مېرمن هغه تر وره پورې بدرګه کړ او د رخصتېدو پر وخت یې هغه ته مچکه هم ورکړله.

ومې ویل د مېرمن نازکو او لنډو جامو، چې لړزوونکو راوتلو سینو یې دتګ پر مهال قیامت جوړاوه او لغړو پښو او ورنو یې له سپینوالي برېښ کاوه او انسان یې تحریکاوه، په داسې حال کې، چې په شوخي سره یې کلیوالې خو عشقي غزلې ویلې او په لاس کې یې د میخکی ګلونو ګیډۍ هم وه، پر مخ مې یې په ډېر ناز او نزاکت راکشوله، په ځانګړې نزاکت یې وویل:

صېب ! څنګه فکر نیولی یې؟ ولې نارامه یې ؟ جګ شه کوټ او پتلون دې له ځانه لرې کړه، نپوهېږې، چې زه نن ستاسو بندیوانه یم، ځان دې ارام کړه، هواګرمه ده ، څه نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دربانديې کېږي، ساړه به دې نه وهي په داسې حال کې ، چې خندل يې ويې ويل:

زه به دې ګرم کړم.

زه دهغې د دغې راشه درشه له کبله له خبرو وتلی وم او غلی وم.

بيا يې د شوخي په ډول زياته کړه:

بنديوان بايد نيک خوی، خندنی او فرمان منونکی وي، ښکاره ده. چې اوس به په کړاو شې.

ما پرېکنده پتېيلې وه، چې د هوشنګ له تګ وروسته به، چې په هر ډول وي دا ځای پرېږدم، خو د نازنين تر ليدنې وروسته ته وا اراده مې چا رانه وړې وي او پر ځای مېخ شوی وم، بايد ووايم چې هوشنګ ډېره لوړه سليقه لري، نازنين ډېره ښکلې او ښايسته وه، زما د پس باوري او کوږ سليقې سره سره بې انصافي ده، چې د هغې پر ښکلا سترګې پټې کړم، له ټولو په زړه پورې د هغې سحر کوونکيو، کوډ ګرو او غزالو سترګو انسان محسوراوه، لوړ او نازک قد، سحر انګېزغړي، مړوند او بلورين ورنونه ، لنډه دا چې ټوله ښځينه ښکلا يې په ځان کې ځای شوې وه، چې زه يې تر کوډګرې اغېزې لاندې وم.

دهغې راپام شو ويې ويل:

صېب ! خبرې ولې نه کوې؟ ګونګ شوی يې ؟ ستا دا ډول کتل ما نارامه کوي.

زه راپه سد شوم، ځان ته مې پام شو ومې ويل:

ايا ته نه پوهېږې، چې ستا سترګې په درلودونکي مقناطيسي ځواك انسان له منځه وړي او کوډې پرې کوي؟

په خندا يې وويل:

خدای دې خير کړي، صېب ! ډاډه اوسئ، زه کوډ ګره نه يم او که رښتيا ووايم له دې راز چارو بدوړم.

ـ باور وکړه ، چې ستاسترګې ډېرې رابښکونکې دي، هغه دشاعرانو خبره تاسو د خپلو ښو په غشيو ښکار له خوځېدو غورځوئ ،چې پر ته له مقاومته تسليمېږي، ومې ويل ما پخپل هېواد کې د کلي او ښار خه د باندې ډېر سفرونه کړي او ډېرې ښکلاوې مې ليدلې، خو تاسو لکه چې زموږ دښار دښايستونو ملکه واست.

ددې پر ځای ، چې له ستاينو مې خوښه شي، ومې ليده ، چې جګه شوه او بالاخره تر څنګ مې ودرېده ، ويې ويل:

ستاسو له ستاينې مننه ! ټول سړي له ماسره مخامخ شوي ستاسو عقيده مې پېژندلې، صدقه او قربان کوئ، خو دا ګرد يوازې د خپلې موخې د لاس ته راوړنې په خاطر کوئ، د خپلې غوښتنې او مطلب له تر سره کېدو څخه وروسته هرڅه هېروئ، د يوې شپې او يا هم د څه وخت له تېرېدو وروسته دغه د ښکلاوو ملکه، دا فريبوونکې معشوقه، دغه نازنينه ښځه له سترګو غورځوئ او هغې ته په تحقير، داستهزا او ملنډو په سترګه ګورئ او له هغې څخه لرې والی کوئ، پر دوی پوهېږم همدوی ماته تجربه رابښوولې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دهغې په خبرو هېښ پاتې شوم، ورته ومې کتل او که رښتیا ووایم بې ارادې مې دغه چاره وکړه او تصور مې کاوه، چې نشې کولای دهغې له ننداري څخه په اصطلاح موړشې.

راته یې پام و، ویې ویل:

څنګه داسې هېښ راته ګورې، ما دلته راوستې یې؟ کومې کلیمې، چې دې کارولې په هغه کور کښې دود وې، د ټولنې له نزاکت او ادابو څخه لرې وې، ما فکر وکړ، چې هغه په ډېره ستونزه دا جملې او کلیمې په خوله راوړي ښایي هغې به هم د ورځې په نرخ او دهغه محیط او پېرونکیو دغوښتنو پر بنسټ جنس پلوره، خو د خبرو د څرنګوالي او د کوټې له نظم او نسقه یې دا جوتېدله، چې یوه با سلیقه او کور لرونکې ښځه ده، له ځان سره مې وویل څه لامل دی، چې د ښکلا دغه سمبول پردې ښکلا او ښایست سربېره بیا هم خلکو پرېښې؟ ضرور هغه یوه سلیقه لرونکې او کورنۍ ښځه ده، خامخا به چا دوکه ورکړې وي او یا خپله د ژوند په څرخوبي کې راښکېله شوې ده. دې ښځې څنګه دغه برباذوونکی ژوند ځان ته غوره کړی؟ او یا که سم ووایم ټاکلی دی. د کوټې له مینل او فرنیچر، د پردو ،کالیو او انتیکو شیانو څخه یې جوتېږي، چې هم باسلیقه ده او هم شتمنه، نو بیا د دغه کسب لامل یې څه دی ؟؟

د هغې د ژوند په هکله مې فکر لا په تاوښت و، چې را غږ یې کړل:

جناب ! څه فکر کوئ ، څنګه له ځان سره خبرې کوې، هسې نه لېونی وې، فکر کوم نورمال نه یې او یا دې ځان په اصطلاح په مړه موږك اچولی، زه باور نه کوم، چې په عمر به دې ښځه نه وي لیدلې او له هغې سره به غېږ په غېږ شوی نه وې، ځکه ښایستوکی او غښتلی زلمی یې، ښایسته هم یې، پیغلې او ښځې جګ قدي او تازه زلمیان ډېر خوښوي.

د هغې خبرې مې غوڅې کړې او ومې ویل:

ډېره بخښنه غواړم، چې نا اړونده پوښتنه کوم... په حېرت او تعجب یې راوکتل، له خبرو یې وایستم. که رښتیا درته ووایم سره له دې، چې سترګې مې یې ډېرې خوښېدلې، خو کله به یې، چې زما په لور په راښکونکي انداز وکتل یو ډول وېره او بې زړه توب به راولوېده، د هغو پر علت نه پوهېدم، چې بیان یې کړم. کله چې په خبرو راغلم مسکی شوه ویې ویل:

باور وکړئ، چې هوشنګ صېب وویل تاسو مسافر یاست، ستاسو چوپتیا مې زموږ د ژبې پر نه پوهیدا توجیه کوله . ښه ده اوس وپوهېدم ،چې ښاغلی ژبه لري، ګونګ نه دی او ښې خبرې هم کولی شي، څه مو غوښتل وواياست؟

ومې ویل بخښنه غواړم، موسکی شوه، وپوهېدم، چې رښتیا هم هغې هېڅ او ناڅیزه تصور کړی وم، ځکه د هغې موسکا ډېر مفاهیم درلودل. چې له هغو نه باید له یوې هر کاره او یا په اصطلاح بدکاره ښځې په وار وار بخښنه ونه غوښتل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ وفرمایئ څه مو غوښتل ، وواياست؟

ځواب مې ورکړ: غوښتل مې دا ووايم ، چې واقعاً تاسو ډېره ښکلې او ښايسته ياستئ، باور وکړه مبالغه نه کوم تاسو د ښکلا د کليمې په مانا ښکلې ياست،فکر کوم چې دښايستونو ملکه مې پر وړاندې ناسته ده.

په داسې حال کې، چې استهزا ته ورته خندا يې کوله، خبرې مې يې ونيولې ، ويې ويل:

صېب! مننه، د ښځو د زړه لاس ته راوړلو په تګلاره ښه روږدی يې، ښځې او پېغلې رښتيا ، چې د خپل ښايست په ستاينه ډېرې خوشالېږي، خو زه پخپل ځان کې ورسره يو ډول غبرګون انګېرم، په دې مانا ، چې له دې خبرو مې ډېرې اوربدلې، غوږونه مې ډك دي، تشريفاتي او دوکه کوونکې جملې دعمل تر سر ته رسونې وروسته لږ تر لږه ديوه ساعت او يا يوې شپې په تېرېدو خپل ځای هېرې ته پرېږدی.

له خبرو يې متاثر شوم ومې ويل:

مبالغه نه کوم. حقيقت مې ووايه، تاسو يې په بدو مه تعبيروئ، ما ملنډه مه جوړوئ، تاسو پرينښودم چې خبرې مې پای ته ورسوم او خپله موخه درته ووايم.

ويې ويل:

ستاسو موخه که هرڅه وي، خو پرهمدې مسأله راڅرخې، تاسو نارينه خپلې موخې ته درسېدو لپاره ، چې وصل دی. نړۍ په دوه لاسو خپلو معشوقو ته وړاندې کوي، نړۍ هغوی ته وريخښئ، تر دې، چې پخپلو دروغجنو او ژر اوښتونکيو

احساساتو وايي "خپل ځان درنه ځاروم" دغسې او هغسې. په خپلو موخو کې تر بري وروسته حتی دې ته هم نه حاضرېږي. چې هغې ته يو غېران ورکړي، حتی د خپلو ملګرو په وړاندې له هغې سره د معرفت او پېژندنې څخه ډډه کوي او ځان په تولیزه توګه ناګاره اچوي. په هيله او خواست حاضر نه ياست، چې په عام بازار کې قدم ورسره واخلئ. دا يو ښکاره حقيقت دی.

اوس دې خپل مقصد ووايه، ستاسو د خبرو څوك نه مانع کېږي. تاسو پوهېږئ، چې هوشنګ ملګري دې زه نن شپه تاسو جناب ته تر سبا پورې اجاره کړې يم او زه ديوې ښې نکاح پشان ستاسو په واك کې يم.

ومې ويل :

تاسو ، چې دومره ښکلې ياست، ولې مو دې ډول ژوند ته ځان سپارلی دی، تاسو خپله ونه غوښتل او که تاسو چا پرېښودئ، چې د کور ښځه دې واوسئ؟

خبرې مې يې په کلکه غوڅې کړې ، ويې ويل:

دا خبرې ستاسو لپاره څه ښې دي؟

ومې ويل:

يوازې زه نه، هرڅوك، چې له تاسو سره ووينې دا پوښتنه يې په ذهن کې راګرځي.

ځواب يې راکړ:

"بالعکس" هر څوك دلته را درومې زما په غېږ کې لوېږي له خدای په امانۍ پرته سبا ګهيخ د وخته دا ځای پرېږدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ومې ویل :

مېرمن باور وکړئ ستا له دې بربادوونکي ژونده ډېر اغېزمن شوم:

ځواب یې راکړ:

صېب ! ستاسو د احساساتو له څرګندونې مننه کوم، خو باید ووایم، چې موږ یو او دوه نه یو، ډېرې نورې ښځې هم شته، چې زما په برخلیك اخته دي، تاسو باید د هغو ټولو په لیدو غمجن شئ.

ځواب مې ورکړ:

که مو پام وي، ملګري مې، چې در پېژندلم، څرګنده یې کړه، چې زه مسافر یم، تراوسه مې یوازې ستاسو شرف تر لاسه کړی، خو ستا له لیدو سره سم ماته دا سوچ پیدا شو، چې ته ځوانه یې، سترګې نیوونکې ښکلا لرې او تاسو ته خدای درکړې ښکلا دا ایجابوله، چې د کور یوه پتمنه مېرمن وای، ښه به نه و؟

خبره مې یې غوڅه کړه ویې ویل:

ته څه خبر یې، چې زه دې کورنۍ ښځه نه وم؟

په حېرانتیا مې وپوښتل:

تاسو کور لرونکې ښځه وئ ! تاسو د چا مېرمن وئ؟ او د چا له کورنۍ سره مو اړیکې لرل؟

په عصبانیت، په داسې حال کې ، چې لړزېدله د فریاد په بڼه یې وویل:

هو ! زه یوه کور لرونکې ښځه وم، ما واده کړی و، دیو چا مېرمن وم، له میړه سره مې ډېره مینه درلوده، بچیان مې له خانه راته ډېر ګران و، هو ! جناب مېړه ته ډېره وفاداره وم، وپوهېدې؟ په زیاتیدونکي تاثر یې زیاته کړه : هو! د نن غوندې بې کسه او د ټولنې د کرکې وړنه وم...

ومې ویل:

ډېر وبخښئ اخر ولې... خبره مې یې غوڅه کړه. په داسې حال کې چې لیدل مې ډېره غمجنه او اغېزمنه شوې وه، ویې ویل:

غوښتل مو، چې وپوښتئ ولې مې خپل پتمن او عزتمن کورنۍ ژوند ته شا اړولې... او دې مردار رزیلانه ... ژوند ته مې مخه کړې ده، همدغه مو غوښتل ؟_آ ؟

ومې ویل:

دا هغه پوښتنه ده ، چې ستا تر لیدو وروسته د هر چا په ذهن کې راګرځي او په بیړه غواړي پر لامل یې وپوهېږي. په داسې حال کې، چې غوښتل یې خپل احساسات بېرته پر ځای کړي. غږ یې لږ سوکه شو، ویې ویل:

صېب ! ستاسو ملګري هوشنګ تاسو د عېش او عشرت لپاره راوستي یاست او له ما څخه یې ژمنه اخیستې، چې له تاسو سره به شپه په خوښۍ تېروم، تر کومه ځایه، چې لازم و تاسو ته مې وویل، له دې پرته نور زما په ځانګړي ژوند پورې اړه لري او نه غواړم، چې څوك زما د ځانګړي ژوند پر کیسه وپوهېږي، پوه شوې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ومې ویل :

او وبخښئ ، بخشنه غواړم، ستاسو په شخصي چارو کې زما د مداخلې موخه نه وه، په همغه لهجه یې وویل :

نو بیا څه؟ دا ټینګار د څه لپاره کوې ؟ددې فحش ځې قانون دی، چې هیڅوك له چا څخه نه پوښتي، چې څه کاره یې، کور کورنۍ، ښځه بچي لرې ، د ټولنې مقام دې څه دی، دلته یوازې د پلورونکي او پیرونکي تر منځ د پیسو پر سر چنه وهل کېږي او بس. لکه څنګه، چې ما له تاسو څخه د کورنۍ، کسب او ستاسو د تېر حال څه نه دي پوښتلي او حتی په پام کې مې نه دي راګرځېدلي، چې تاسو جناب ښځه لرئ، له کومې عزتمنې کورنۍ سره اړه لرئ او که ښځه بچیان لرې، نو د څه لپاره نن شپه زما لپاره فحشخانې ته راغلي یاست، حتی زما په وړاندې (۱۶) کلن ځوان او (۷۰) کلن بوډا هم نه دي مطرح. او که مشتري (پیرونکی) مې له پښو لوېدلی هم وي، مینه لرم ځکه ډېرې پیسې او لږ کړاو مومم.

ومې ویل:

افسوس دی، چې تاسو په دې پوهه او ښکلا په دې بدنومه کاله کې اوسېږئ، په خدای قسم ستاسو ځای دغه ځای نه دی.

بې پروا یې وویل:

ستاسو په وینا زما ځای دانه دی، نو ستا سو په ګروهه چېرته دی؟ چېرې لاړه شم ؟ څوك ماته پناه راکوی، له چانه

شکایت وکړم، ایا تاسو جناب حاضر یاست، چې له غوښتې پرته راسره مرسته وکړئ او څه شی راکړئ؟

تاسو جناب، چې سرخوځوئ او پر حال مې افسوس خرګندوئ دې ته حاضرېږئ، چې له ما سره واده وکړئ. حتی په همدې ښکلا او ښایست، چې تاسو زما تعریف او ستاینه وکړه حاضرېږې، چې ماته د خپلې یوې وینځې په توګه په کور کې ځای راکړې؟

زه غلی شوم او سر مې ښکته واچاوه، دې ځواب راکړ: ولې غلی شوې؟

ما وې څه کولی شم، کوژدن لرم.

ویې ویل:

بس کړه، پر زړه مې اور مه بلوه ، زه چې غواړم ځان او ټول غمونه مې د شرابو په جامونو کې مستۍ او هېرې ته پرېږدم او دهغه او دغه غیږې ته په ورتګ ټول له یاده وباسم تاسو غواړئ زما د ټپي زړه ټپونه بېرته راتازه کړئ. زه تاسو او هیچاته د دې چار اجازه نه ورکوم، پرېږدئ وسوزم او نور جوړ کړم.

کله یې ، چې له خولې څخه دغه خبرې را ایستلې، په ټول بدن کې یې لړزه را پیدا شوې وه، د خبرو په لړ کې یې د غږ او عکس العمل برید سم په ویسا بدل شو، چې په زړه کې کومه سوزنده سکروټه لري او غواړي هغه د هېرې په ایرو کې پټه وساتي او له یاد یې وباسي، نور هم تشویق شوم، چې هر څنګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده باید یې د ژوند له پېښو یو څه خبر شم، خپله هم نه پوهېدم، چې زما دغه ټینګار څه انګېزه لري؟!

زه په ژور فکر کې ډوب وم. هغه زما په وړاندې غلې وه څه وخت وروسته یې په مصنوعي کړاو ځان سوړ وښود، په زړه سوانده لهجه یې وویل:

بخښنه غواړم جناب! تاسو نارامه نشئ، د رنځپوهانو په وینا ځینې وختونه ماته عصبي ربړه پیدا کېږي، رنځ، چې د انسان په لاس کې نه دی څه به وکړي.

یوځل یې بیا وخندل ویې ویل:

جناب! جګ شه، جامې دې له تنه وباسه، هوا توده ده، ځان دې ارام کړه، ژوند ددې ټولو زړه خوږینیو ارزښت نه لري، څو ورځې باید خوشحال واوسو، وروسته چې ټول مري او ټول ځیزونه هېرېږي وایې په هغه نړۍ کې اصلاً غم، غوسه، تېری، جفا او بېداد ګري بیخي وجود نه لري، هر څوك تر ځانه رسي، نورو ته ستونزې نه راپنځوي.

په داسې حال کې، چې په خوښۍ او خندا یې اظهار کاوه، په ناز او تغوته یې زما په لور راکتل، یو ځل یې بیا راته وویل:

جګ شه، راځه په غېږ کې مې نړۍ او دهغې غمونه هېر کړه دشپې له پیله مې تر اوسه نیم بوتل ویسکي پرسر اړولی ده .... قدرمنه مېلمه ستا لپاره... زما په سلامتي سر وباسه... باور وکه، چې بدن به دې تود، خراب او عصباني فکرونه به

دې له مغزه لرې او خیال به دې په مستۍ هېرتیا او د بې خیالۍ او سوکالۍ په نړۍ کې وغوړوي.

په داسې حال کې، چې جانانه نخرې یې کولې زیاته یې کړه: زه خپل ځان او ټول کمال تاته تسلیموم، څومره دې چې زړه وي زما له پاسته ستاسو په وینا له نازنین او ښکلي وجود څخه ګټه واخله، چې هر څومره دې زړه وي له غنچه ډوله شونډو مې مچکې واخله، اننګي مې دروځېښنه، پرېږده زه هم ستاله نږدیتوبه د یوې شېبې لپاره تاسره شم له غمونو سره مې ځان هېر کړم، غم خوړل فایده نه لري، ولې د ژړا او نارو پر ځای ونه خاندو او د نړۍ د غمونو پر ځای شوخي ونه کړو.

دا یې وویل، خپل جام یې ډك کړ او پورته یې کړ ویې ویل:

د ځوان او با احساسه مسافر په سلامتیا"!

ورته ومې ویل:

"مستي او نشاط" په کومې خوشالۍ او دځه لپاره؟

یوه ټوټه اور شوه. لیونۍ شوه، حالت یې فاحش تغیر وکړ، غږ یې له پوستوالي غوغا ته ورسېد، وې تاسو پوښتنه کوئ چې دځه لپاره دا کار کوې؟

جناب واوره! ددې لپاره، چې ملګري دې نن شپه په ډېرو پیسو ستا لپاره اجاره کړې یم... هغه عیاش، ښځخو ښې او په دې برخه کې ډېر زړه خلاصې خوان دی. له څه وخته مې له هغه سره پېژندګلوي ده، ډېرې شپې یې زما په غېږ کې تېرې کړې، هغه راته ډېرې پیسې راکوي، ښې، ښې ډالۍ راوړي، ما په هر ډول، چې وي خوشحاله ساتي او که وپوهېده، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاسو مې نن شپه ښه ساتلي یاست، لاډېرې پیسې راکوي، هغه ډېر ښه زلمی دی، فکر کوم ته هم په ځوانۍ کې له هغه نه کم نه یې، ځکه هوشنګ ډېر هوښیار دی، هر کس، ناکس او په بازار کې تېرېدونکی ملګری نه راپېژني، دا لومړی ځل دی، چې زما په کور کې یې تاسو ته خپل ځای درکړی دی، دغه تګلاره او سلوك د ورورګلویزې دوستۍ لپاره ډېر ارزښت لري، ما لومړې، چې تاسو ډېر نژدې او ځان ته ګران ګڼې، نپوهېږم، چې تاسو له هغه سره څه کړي، چې دومره اخلاص یې درسره پیدا کړی دی. زه یې پېژنم، ژوند ماته ډېر یادوونکي در سونه راکړي، که رښتیا ووایم د سړیو ډېپلوم مې له خپل ژونده اخستی . د لږ عمر باوجود مې ډېره تجربه تر لاسه کړې، له سجده پرېوتی شیخ رانیولې، تر بازاري نارینه و پورې ټولو خپلې ښځې پرېښې او ددغې او هغې غېږې ته یې پناه وړې، دهغوی هدف، چې هر څه وی خو زما په وړاندې شهرت سړول دي، زیاتره یې دې کارته تنوع وایي، خو وپرېږم کوم نوم چې پرې کېږدي زما په نزد له خپلو ښځو سره خیانت دی، یو مخیزه په یو نه یو ډول خیانت دی زیاتره یې پر کور لرونکو ښځو سترګې ګنډې، ساده ډوله جینکۍ د عشق او مینې په نومونو له سمې لارې وباسي، د هغوی بکارت له منځه وړي، هغوی بدمرغه کوي او بیا هغه د دوستۍ او مینې او عشق داستانونه په کرکه اوړي، وروسته هغوی په بې ناموسۍ پرېږدي او ترې درومي، د ښځو ټولې بدمرغۍ د نارینه و د لاسه دي.

زړه یې و، چې د زړه ټول بړاس پر ما وباسي، خبرې مې یې ونیولې ورته ومې ویل:

مېرمن تاسو ټول سړي په اصطلاح په یوه تار تړلي، خو استنات هم باید ومنې!

وې پوښتلم، جناب ! څه استنات (!)طبیعت د انسانانو په بدن کې یو برابر شهوت نه دی اچولی؟ ایا دغه ویرونکې انګېزه ستاسو په بدن کې نه شته، چې ځان پر نورو لوړ ګڼې.

نه، جناب! زه ستاسو خبره نه منم، ټول سړي له یوې ډلې څخه دي، ښایې اند دود به یې توپیر و لري، خو د مېرمنو او خپلو ښځو په وړاندې یې کردار یوشان دی.

مېرمن زه جدي وایم، چې له کوژدن او راتلونکې ښځې سره مې ژمنه کړې خیانت به نه ورسره کوم.

یو دم مې له مخې پورته شوه، په حیرت او راښکونکو کتو یې ، چې زه یې هیښولم، زما په لور راوکتل، فکر مې وکړ، چې هغه به دمستۍ او شراب څښلو په حالت کې لیونۍ شوې وي، اننګي یې ګلونه غورځولي وُ، ژوره ساه یې اخستله ، له سر او مخ څخه یې خولې په راځخېدو وې، دې څرنګوالي یې دومره وخت ونه نیو، یو ځل یې د رینښتنو لېونو پشان قهقهه خندا وکړه ، ویې خندل او بیا یې وخندل او بس خندل یې ، خپل لاسونه یې په پښتورګو (تشیو) کې ونیول. زه ووېریدم ، چې څه وشول، په همغه حال کې یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېرښه ، ډېر عالي، د ټولو ښځو سترګې روښانه، مبارك!
وروسته يې چوپتيا غوره کړه ، تر لږ ځنډ وروسته يې وويل او
ويې پوښتل:

ووايه جناب ! په دې خبرو دې غواړې ځان ته دوکه ورکړې
که ماته؟ ووايه کوم يوه ته؟ جناب! انسان نبايد پخپله ځان
ښوونه کې دومره غټه مبالغه روا وګڼي که خپله ښځه دې په
دې خبرو دوکه کړې وي او که هوشنګ ملګري ته دې په دې
خبرو ګپ ورکړی وی او که ساده ګانو دې پر دې خبره بسيا
کړې ده، زه يې نشم منلای، دا ټول پوچ درواغ دي، دليل يې
روښانه دی او که داسې ده، جناب ! ووايه، چې ديوې بدنومې
ښځې کورته مو په دې توره شپه کې د عبادت او لمانځه لپاره
تشريف راوړی؟ ماته پکار ده، چې سجده ځای درته جوړ کړم
او لمونځ او تهجد پرې ادا کړې، کېدای شي د ځان د اغفال
لپاره استدلال وکړې، چې ملګري مې په زور راوستلی يم، ته
چې خپلې مېرمن ته دې د شرافت ژمنه ورکړې او ماشوم خك
نه يې، چې چاتر لاسه راځکولی وې او دلته يې راوړی وې،
پوهېږم ته پخپله خوښه او بختورو پښو پوړ ته راختلی يې، په
ژينو باندې چا په زور نه يې راخېژولی، اوس ځواب لرې، چې
ويې وايې. نه هېڅکله نه، تاسو ټول نارينه دروغجن،
ژمنماتي، بې وفا مطلب اشنا او د ښځو په اړوند بې تفاوته
او ځانښودي ياست، زه په دې کار کې تجربه لرم او دا زما
عقيده ده، اشتباه هم نه کوم.

ورته ومې ويل :

مېرمن ستاسو عقيده ، چې هر څه وي ستاسو لپاره ده،
خو ما په ښه ډول وموندله ، دهغو لاملونو له کبله ،چې زه پرې
نه پوهېږم، ستاسو د بدليدنې حس تر خپله بريده رسېدلی،
کېدای شي له تاسو سره خيانت شوی وي پر تاسو يې ظلم روا
ګڼلی وي !! خبره مې يې ور ونيوله، زياته يې کړه:
رښتيا دې وويل جناب ! زه پر ټولو بدګومانه يم، له ټولو
کرکه لرم، په خدای ، ويې منه رښتيا وايم، په ځمکه په اسمان
، په نړۍ په خلکو آن له خپلو همنرډو يانې د ښځو له پاټکي
دلرېتوب کرکه لرم، دغه کرکه مې تر وروستي بريده رسېدلې،
که زور مې پرې ورسي، له ځېلمې يې پوپنا کوم.

ومې پوښتل:

ددی ټولو کرکو او بدګومانيو لامل څه دی؟

وقهرېده ويې ويل:

جناب ! تاسو راغلي ياست، چې نن شپه له ماسره تېره کړئ
او سبا وختي دغه ځای پرېږدئ، خو ته لکه، چې غواړې زما
ټول روزګار را خراب کړې؟!

ومې ويل:

مېرمن شپه نه ده تېره شوې تر اوسه دشپې لومړئ برخه ده
، د نورو چارو لپاره ډېر وخت دی.

ويې ويل !

ته عجيب انسان يې ! په تايې څه، چې زه څه کاره وم،
چېرته وم او زما د کرکې لامل څه دی؟ په تا پورې اړه نه لري.

ومې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولې مېرمن ! زه انسان نه یم؟ د نورو له غم او کړاوه دې اغېزمن نه شم؟ انسان ته خدای له احساسه ډك زړه ورکړی! په تمسخر غوندې مسکی شوه او ویې ویل:

ما مخکې هم د نارینه ؤ په هکله څه وویل، بس دی، نوره د خبرو اوسپله نه لرم.

په خندا مې ورته وویل:

په دې خوانۍ کې دومره بې اوسپله توب!!

ویې ویل:

ولې نه غواړې وپوهېږې، چې پرون شپه زه نه وم ویده شوې، ډېر کړاو مې ایستلی.

ومې پرښتل: ناروغه وې؟

ځواب یې راکړ:

له ناروغتیا بتر، صېب زه تا څنګه وپوهوم، چې زه یوه پلورونکې یم، لاړمه ده چې زما پېرونکی خوشاله وي، دنن، پرون او نورو شپو پشان د پیسو په بدل کې، ځان، ناموس، خوب، ارام او سکون ټول پلورم، ځان د پېرونکي واك ته سپارم، د "څنګه" او "ولې" حق نه لرم او که نه ما بیا بداخلاقه بولي، زیاته یې کړه، تېره شپه یو بوډا راغلی و، چې په ټولنه کې په درانه نوم یادېږي او په اونۍ کې یو ځل د خوانۍ یادونه تازه کوي، زیاتې پیسې راکوي ، خو بې درېغه بې شرمه دی.

ومې پوښتله:

مېرمن تاسو وایئ، چې په یوه کاته خپل مشتري پیژنئ، نو هغه ته مو ولې موقع ورکړه؟

صېب ! دا بوډا ډېرې پیسې لري، د شګو غونډې یې بادوي، ګران بیه ډالۍ راته راوړي، بېوزله ډېره بده اشتها لري، هوښیار دی په ځانښودنې ټولو خلکو ته دوکه ورکوي، هغه ټول متعصب مذهبي او پاك نفسی ګڼي، نیمه شپه په بدلو جامو کې رادرومي، ددې کار لپاره یې ټیلیفون هم اخیستی ، زما د کور ټول لګښتونه دی پوره کوي، زه یې د لور په ځای یم، ښځې ، پچیانو، لوڼو، زومانو ټولو ته دوکه ورکوي، په اونۍ کې یو یا دوه ځله راځي، مخکې له مخکې ټیلیفون راکوی. زه مجبوره یم ، چې انتظار یې وکړم او بل پېرونکی ونه منم، ما ډېره نازوي.

هغه دې خوښېږي؟

ځواب یې راکړ:

تر ده مې یې پېسې ډېرې خوښېږي، که رښتیا ووایم کرکه مې ترې راځی، ډېره مې کړوي، له شپې مې آن تر سهاره ویښه ساتي.

ومې ویل:

سهار، چې د خوب وخت لرې؟

ویې ویل:

د څه لپاره ، نن مې ډېر ښه پیرونکی درلود، ډېر نېك خویه او ښکلی زلمی دی ، قصد مې و، چې نن هیچاته هم ځای ورنه کړم، څه وکړو زموږ ژوند هم زموږ په لاس کې نه دی. باید و دردېږو، وژاړو، نارامه او ناروغه واوسو، چې ښاغلی خوشحاله وي، خندا وکړي، دا زموږ ژوند دی. زیاته یې کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوښتل مې بستر ته لاړه شم، چې تاسو او ملګری مو رابښکاره شوئ، نه کیدله، چې د هوشنګ لاره مې نیولې وای.

یو اوږد اسویلی یې وایست، چې د ژور تاثر څرګندوی و.

ومې ویل:

تاسف کوم، چې ستاسو استراحت مې ګډوډ کړ، خو زه تا سره ژمنه کوم، چې مزاحمت به نه درپېښوم.

په تعجب یې را وکتل او ویې ویل:

نو بیا څه ته راغلې؟ زما پیسې به څنګه شي؟

په خندا مې وویل:

ماته پیسې مهمې نه دي، ستاسو نارامي مهمه ده.

وئ! پیسې مهمې نه دي ، نوې خبره اورم، پیسې هر څه دي ایمان، وجدان، شرافت، حیثیت، هرڅه کولی شي په پیسو واخلې. غوښتل مې هغه له نارامی څه وزغلوم ومې پوښتل:

هاربښتیا ! هوشنګ به تاسو ته څومره پیسې درکړي؟

په داسې حال کې، چې له پوښتنې سره مې وترهېده ویې ویل:

هغه ډېر ښه ځوان دی، ښایې ډېرې پیسې راکړي، په ځانګړې توګه ستاسو د میلمستیا له کبله.

ومې ویل:

کولی شي د هغې ډېره اندازه اټکل کړې او ماته یې ووایې؟

ځواب یې راکړ:

په هغو شپو کې، چې ماته رادرومي ( ) پیسې راکوي، ښایې نن شپه هم همغه اندازه یا زیاتې.

ما له هغې اندازې ، چې دې وویل زیاتې پیسې ورکړې، په حیرانتیا یې زما په لور راوکتل او ویې ویل:

عجیبه !؟ جناب! پر ما د ډېرو پیسو پېرزوینه، ډېره مننه هغه یې ور واخستې او د کمیس غاړې ته یې واچولې ، په خندا یې وویل:

هوشنګ، چې ستاسو کوربه و، ښایې بده پرې ولګي او ښکاره نارامه شي، خیر داهم مهمه نه ده، ما خپلې پیسې واخستې اوس زه ستاسو په اختیار کې یم.



(c) ketabton.com: The Digital Library

* * *

ومې ویل:

ـ مېرمن تاسو وړاندې هم وویل، چې ستومانه یې او ارام ته اړتیا لرې، همدغسې نه ده؟

جټکه یې وخوړه، په ژوره حیرانتیا یې وویل:

ـ څه اورم!! رومبی ځل دی، چې پخپل عمر داسې خبره اورم، د نورو د رویې برخلاف؛ هسې نه چې په رښتیا لېونی وې، ورزیاته یې کړه: نه، نه تاسو د لېونیانو په شان خبرې نه کوئ، تاسو سمې خبرې کوئ.

په خندا مې وویل:

ـ مېرمن لېونتوب هم مختلف ډولونه لري، خو ډاډه اوسه ځنځیري لېونی نه یم، بې غمه اوسه، له مانه مه وېرېږه.

په داسې حال کې، چې زما له شوخۍ نه په حیرانېدو وه،

ویې ویل:

ـ صېب! کولی شم وپوښتم که لېونی نه وې، ولې مو خپله ګران بیه شپه بېځایه تېره کړه او خپلې ډېرې پیسې مو تلف کړې؟

په شوخۍ مې ورته وویل:

ـ تاسو پیسو ته ډېر اهمیت ورکوئ، پیسې مې درکړې، خو زه نه غواړم تاسو له ارام او استراحته وباسم، تا څو ځله وویل، چې نارامه یم او تېره شپه نه وم بیده شوې، ښه ده چې ځملې او ارام وکړې.

په تمسخر یې وویل:

ـ زما خبره مو څو ځله تکرار کړه، څه فکر کوې، چې زه به وشرمېږم؟ نه جناب! زموږ په قاموس کې اصلاً د شرم طبقه نه شته. تقوا او فضیلت نه پېژنو، موږ له بده او یا له نېکه مرغه له دغو ټولو ښېګڼو بې پروا یو او پر هغو ایمان نه لرو.

ومې ویل:

ـ مېرمن دا نومونه دې یې چې واخیستل خامخا اهمیت ورکوې او که نه نومونه به دې یې نه اخیستل، فکر مې په یقین بدل شو، چې ډېره خطرناکه کینه لرئ او هغه هم د هغه ناحقه تېري په سبب، چې پر تاسو شوی دی او که غوره ووایم، تحمیل شوی، چې له ټولو اخلاقي ښېګڼو له څېلمې ډډه کوې بنایې په ښکاره داسې ووایې، خو زما باور دی، چې په زړه کې یې درناوی ساتې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زیاته مې کړه:

_ که په تکلیفېږئ نه، که د خپل تېر سرګذشت په اړه څه ووایئ بده به نه وي. زحمت کموم او تاسو استراحت وکړئ، چې ستړیا مو لرې شي.

باید ووایم، چې په بېخبرۍ مې غوښتل د هغې پر برخلیك وپوهېږم او نه مې شوای کولی، چې پر خپل دغه ټینګار هم وپوهېږم، خو بېحده لېوالتیا مې ورسره پیدا شوې وه. که څه هم د هغې حسن، ښکلا او په همدې ترڅ کې د هغې معصومیت "چې غوښتل یې له نظرونو یې پټ وساتي او قصداً ځان یوه بدکاره ښځه وښیي" دا جوتوله، چې په زړه کې یې یو اور شته او د ژوند په هره شېبه کې یې کړوي او ما غوښتل، چې هرڅنګه وي په خبرو یې راولم او د ژوند پر پېښو یې وپوهېږم، ځکه ډېر کم پېښېږي، چې څوك دې یوه دغسې کم عمره پېغله او بیا په دغسې ښایست او مالګیني له ځانه لرې کړي، آیا هغې له کورنۍ څخه منفي روزنه کسب کړې وه، که نه له رومبیه همداسې واز سترګې او بې بندوباره وه او که چا غلطه کړې وه او یا هم خپلسرې کینه، دښمني او سوتفاهمات د دې لامل شول، چې میره یې طلاق کړي او ماشومان ترې یوسي؟

پس له دې، چې ترې ومې غوښتل، د خپل ژوند کیسه راته ووایي او فکر مې کاوه اوس یې، چې پیسې واخیستې او ورته ویلې مې و، چې مزاحمت هم نه کوم او ځمه، اوس به د خپل تېر ژوند پېښې راته ووایي، خو زما د عقیدې او برداشت

برخلاف په غوسه شوه، پرته له دې، چې نزاکت او درناوی پرځای وساتي په قهرجنو الفاظو یې وویل:

_ په تا یې څه؟ نه یې وایم: هېڅکله به یې هم ونه وایم. زه غواړم په هغه اور چې زما د زړه توټې، سپېڅلی ژوند او... سوځولي او زه یې دغې مرداری ته راڅکولې یم. د نړۍ ټول خلك وسوځوم، دا زما پرېکونی تصمیم دی!! پوه شوې!

ومې ویل:

_ مېرمن! ستاسو له خبرو څرګندېږي، چې ستاسو په بربادۍ کې یو یاد وو او یا هم تر دې زیاتو کسانو برخه اخیستې، دا خو بې انصافي ده. چې تاسو له ټولې نړۍ سره دښمني کوئ!

د انصاف کلمه یې څو ځله تکرار کړه. بیا یې په غوسه وویل:

_ د څه شي انصاف؟ دا مرداره کلمه. چا انصاف وکړ. ایا څوك حاضر شول. چې له ما سره انصاف او نیاو وکړي او پر ما او ماشوم بچي مې رحم وکړي.

په داسې حال کې. چې ژړل یې. ویې ویل:

_ زه مور وم. موږ له خپل بچي سره مینه نه لري؟ د هغې خبرې مې پرې کړې. ومې ویل:

_ مېرمن! بخشنه غواړم. زه دا نه وایم. چې پر تاسو بې انصافي نه ده شوې. دغه سزا د سترې ګاه له سزا هم زیاته ده. له مرګه هم بده ده. خو ټول انسانان یو رنګ نه دي. عاطفه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زړه سوی، همرنګي او شفقت هم شته، ښه او بد هرځای پیدا کېږي.

په داسې حال کې، چې شهلايي سترګې يې له اوښکو ډکې وې، په قهر ژلي ډول يې وويل:

_ جناب! تاسو له مانه څه غواړئ؟ ستا يې زما له برخليك سره څه؟ ولې مې ځوروئ؟ اخر ولې مې نه پرېږدئ! زه هڅه کوم، چې خپل تېر او حال هرڅه هېر کړم، چې څه ګټم شراب پرې اخلم، څښم يې بيا يې هم څښم، چې هرڅه مې هېرشي او ته غواړې دا ټولې هڅې مې هسې په اوبو لاهو کړې؟ هان؟

دا يې وويل، له شرابو يې يو ګيلاس ډك کړ او پر سر يې واړاوه، ګيلاس يې د ميز پر سر کېښود او سترګې يې په ماکې شخې کړې، هغه مهال د نوموړې سترګو ځان ته بله بڼه غوره کړې وه، ځانګړې رابښکونې يې درلودې، رښتيا چې تورې سترګې بلاوې کوي، هرڅو که انسان له ښايستونو او ښکلاوو بې تفاوته و اوسي، خو د تورو او بيا د نازنين په څېر د زړه رابښکونو سترګو په وړاندې بې تفاوتي ناشونې وه، د نازنين له کسيو يو ډول رڼا وربدله، چې انسان يې وربښکلو، له ځان سره مې وويل، چې دغه سترګې شرارتي سترګې نه دي. د هغې سترګو پر رابښکونې او جذابيت سربېره مظلوميت او معصوميت هم درلود، که دوی هرڅو ځان شرير وښيي، خو له ځانه د يو ډول مظلوميت څرګندونه هم کوي. ماته عجيب حالت لاس راکړ، ته وا په اپنترزم سره بې واکه شوی وم او د

خبرو او خوځېدا واك راڅخه اخيستل شوی وي. هيله مې وه، چې څو ساعته پرله پسې ورته وګورم.

پوهېدلم، چې د هغې له ننداري به په اصطلاح موړ نه شم. هغه د شرابو تر څښلو وروسته ګرمېدله او يو جنوني حالت يې غوره کاوه، ته وا هغه هم ماته متوجه وه او پخپلو سترګو يې بې وسلې کولم، ما به چې هغې ته کتل، هغې به هم خپلې سترګې راړولې وې.

بالاخره يې په ژوره ژبه وپوښتلم:

_ جناب! ولې داسې رډ رډ راته ګورې، ما دلته راوستی يې؟

هرڅنګه، چې وه ځواب مې ورکړ:

_ نه مېرمن! تاسو نه يم راوستی. زما باور راغی او ستاسو له سترګو مې ولوستل. چې تاسو مظلومه ياست او ظلم درباندې شوی. خو پردې ونه پوهېدم، چې دا ظلم دومره غټ و. چې ستاسو ژوند يې بدل کړ او دغې مرداری ته يې راسيخه کړې او که ستاسو خپل برداشت دومره وغټاوه، چې په ضديت او عقده مو خان تر دې ځايه راورساوه؟ زياته مې کړه، چې اوس له خان او ټولې نړۍ سره دښمني ته راوتلې يې؟

شراب زياتره وخت پر بدني غړيو بندې او ناوړه اغيزې ښيندي. په ځانګړې توګه زړه ورخپلوي او د فکر او پام قوت له منځه وړي او که شرابيان له ښو او کوميډي صحنو سره مخامخ شي. مثبت او خوشاله غبرګون ښيي، تر ګېنټو، ګېنټو پورې يې له خندا او شوخيو شونډې نه سره ټولېږي. خو که له

(c) ketabton.com: The Digital Library

تراژیدیکو او غمجنو صحنو سره مخ شي او بیا چې رواني عقدې هم ولري، په ژړا، چیغو او مبالغاتي غوغاوو لاس پورې کوي.

د ژوندانه د پېښو له بیان او اورونې څخه د هغې ځان ساتنې، نور هم وهڅولم، چې ځان ترې خبر کړم او پر ژوندانه یې وپوهېږم.

ترې ومې پوښتل:

_ تاسو پر مقدساتو عقیده لرئ؟

ویې ویل:

_ پخوا مې درلوده، خو اوس نه... او زیاته یې کړه:

_ تاسو چې د مقدساتو خبره راواچوله، دا ټول ښکرور درواغ دي، چې خلك یې د دوکې لپاره جوړوي، په نیولی ژبه یې زیاته کړه:

_ هیله هم درواغ دي، چې راتلونکې ټکیه ګاه لري. غرور هم درواغ دي، چې زه یې هم وایم. رحم زړه سوی، محبت، عشق، دوستي او نور... ټول په درواغو حساب شوي، چې د نورو د دوکې او د دغې او هغې د بې لیاریتوب لپاره یې وایو. نه پوهېږو چې په ژوندانه کې څه رول پرغاړه لرو، ژوند هسې لوبه ده. تاسو چې زما د ښایست تعریف او ستاینه کوئ، درواغ او مبالغه ده.

د هغې د سکون لپاره مې وویل:

_ نه تاسو اشتباه کوئ! تاسو باید پر دې وپوهېږئ، چې زه د چاپلوسۍ او درواغو څښتن نه یم.

خندا یې وکړه، ویې پوښتل:

_ بیا څه؛ تاسو رښتیا وایئ؟ هان؟

ځواب مې ورکړ:

_ باور وکړه ستا د ښایست ستاینه ستا د پېژندګلوۍ په خاطر نه کوم. ته دومره ښایسته یې، چې د پالنې وړ یې!

ځواب یې راکړ:

_ داسې یې وبوله. چې ستاسو خبره مې ومنله. دا ښایست په مرداریو لړل شوی، ککړ دی، چټل شوی، د څه لپاره ښه دی، یو بې بویه ګل دی، چې د ننداري لپاره ښه دی، خو دبوی خانګړتیاوې نه لري. څه په درد خوري؟

زیاته یې کړه:

_ یو څوك، چې د کنه په سر ټولو تیارو پړاوونو کې ډوب وي او د پلیتۍ په توره څلور دیوالۍ کې غورځېدلې وي، نه زړه سوی پېژني او نه نور د کور غړو او کورنۍ ته پام ساتي.

ومې ویل:

_ تاسو ووې، چې دا هرڅه درباندې تپل شوي. دا خو ښکاره خبره ده. چې ستاسو له غوښتنې پرته قصداً دغه ژوند درباندې تحمیل شوی دی. غوښتل مې په غیر مستقیمه توګه هغه په خبرو راولم. په نشه او نژدې بېسده حال کې ډوبه وه. دا پرخای موقع وه. چې خبرې ترې نه وایستلی شي. ځکه مستانه انسانان. چې عقل یې د شرابو تر نفوذ لاندې راغلی وي. زیاتره لیدل شوي چې په ناخود اګاه ډول له خولې څخه ناویلې خبرې راباسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغې سکوت غوره کړی و، ومې ویل:

_ تاسو زما ځواب رانه کړ؟

له سوزه ډك اسویلی یې وایست، ویې ویل:

_ له بې انصافۍ څخه بل بد شی نه شته، کله داسې مهال راشي، چې تر ټولو نژدې کس، سړی په داسې وضع ورتې، چې له انساني اسلوبو سره په ټکر کې وي.

ومې ویل:

_ تاسو ښه پوهېږئ، ستاسو ژوند ډېر بد دی، ناپاکه دی، ښه نه ده چې ځان ته بل ژوند غوره کړې؟

کتل مې چې له دې خبرې مې یې په ذهن کې نامریې احساسات وټوکېدل، هغه احساسات چې پوهېدلم له هغو څخه خوند اخلي، یو ځل جګه شوه، په داسې حال کې چې خپل تعادل یې په ډېر کړاو سره ساته، د هینداري ترڅنګ ودرېده، له ځانه یې یوه یوه جامه لرې کوله او د خوب پر تخت یې غورځوله، کله چې لوڅه، لغړه شوه او په هینداره کې یې د خپلو پستو او لړزوونکو غړیو تصویر وکوت، ستونی یې وچ شوی و، ما ویل سوچ به کوي، چې دا ښکلی بدن ولې مردار شوی دی، ځان به له سره تر پښو پورې په ګناه کې ډوب وینې او وایې به، چې د یوې کورنۍ ښځې لپاره دا ډېره سپکه ده، چې د ګناه پر ځمکه پل ږدي.

د دغې ښځې د پریشانۍ او اندېښنو تشریح، چې له مورنۍ مقام څخه د پستۍ ټیټې درجې ته لوېدلې، اسان کار

نه و. چارې او کړه وړه یې د توجیې وړ نه و. یو ځل زما په خوا راغله او ویې ویل:

_ ولې نه غواړې، چې سره ویده شو؟ وینې چې ټول ځان مې درته لغړ کړی دی! ستا لپاره!! ستا د راښکون او شهوت خوځونې لپاره! پورته شه، نور ځنډ مه کوه. فکر کوم چې له یخ نه جوړ شوی وې، په عمر مې داسې بې تفاوته سړی نه دی لیدلی. زما ښایست خدای ستاسو د شهوت سړولو لپاره پیدا کړی، ولې ترې ګټه نه اخلې؟

په داسې حال کې، چې له ښایسته یې واقعاً اغېزمن شوی وم، بیا مې هم خپل احساسات راکابو کړل او ومې ویل:

_ ښکلې مېرمن! د خوب لپاره خو لا وخت لرو. ښه نه ده چې د ځان په هکله څه ووایې؟

په دې خبره مې یې ته وا اور واخیست. ویې ویل:

_ څه وکړم. که د هوشنګ خاطر نه وای، همدا اوس دې په حساب پوهېدم. نه پوهېږم ته څوك یې او له مانه څه غواړې؟

په شوخۍ مې ورته وویل:

_ ډېره ساده ده. ستا د ژوند ماجرا او سرګذشت

په غوسه یې وویل:

_ یو ځل مې وویل، چې نه غواړم څه ووایم. ګیر شوی یاد مې له ژوند اچوي. ډېره تکلیفېږم. ته لکه چې ماته د عذاب ملکه ټاکل شوې یې؟

ومې ویل

_ نه مېرمن! زه ستاسو لپاره د رحمت ملکه یم

(c) ketabton.com: The Digital Library

په حیرانتیا یې څو ځله د رحمت ملکه تکرار کړه، زیاته یې کړه:

_ سترګې مې رڼې! دا دومره ټینګار او بې شرمي څه ګټه لري؟

ځواب مې ورکړ:

_ زما لپاره نه، بلکې ستاسو لپاره ګټه کوي، ستاسو د درد شفا ده.

ویې پوښتل:

_ زما د درد شفا ده.؟

د هغې خبرې مې قطع کړې. ومې ویل:

_ زه پوهېږم، چې تاسو تراوسه هېڅا ته هم د خپل ژوند کیسه نه ده کړې او همدې نه ویلو بس ستاسو په زړه کې یوه بده عقده زېږولې، چې هره شېبه مو کړوي. ښه ده چې د عقدې د له منځه وړو لپاره خپله کیسه وکړئ، ماته یې وکړئ او یا یې هم کوم بل چاته وکړئ، څو ځلې یې وکړئ، چې روانې عقده مو له منځه یوسي.

په قار شوه، ویې ویل:

_ رنده دې ګڼلې یم، نه یې تاته وایم، نه بل ته.

ومې ویل:

_ مېرمن تاسو ولې ضد کوئ، خدای مه کړه له ځان سره هم دښمني لرې که څنګه؟

په داسې ترخ کې، چې د تخت په لور روانه وه، په تکراري ډول یې وویل:

_ هو جناب! په تا یې څه، له ځان سره جنګ کوم. یو دم غوسې واخیسته، خپلې جامې یې تیت په تیت کړې، زما پیسې یې په ګورت کې راواخیستې او راویې شینډلې، ویې ویل:

_ واخله پیسې دې، خواهش کوم لاړ شه ما چېرې ارام ته پرېږده، د خدای په خاطر چې له چا سره مینه لرې هغې ته ورشه، ما یوازې پرېږده، له تاسو، له هوشنګ له هرکس او ټولې دنیا کرکه لرم.

د خبرو پر وخت یې پر بدن لړزه ناسته وه او په قار قار یې دغه خبرې کولې. یو دم بل رنګ شوه، په ژړا سر شوه او په چیغو یې ویل:" خدایه! دا خلک له مانه څه غواړي!" د فرش پر سر کښېناسته او سر یې د کټ پر بازو کېښود په سلګو، سلګو یې ژړل.

زه له ځایه جګ شوم، پیسې ټولې د فرش او میز پر سر پاشل شوې وې، له غږ او غوږ او خدای په امانۍ پرته مې هغه ځای پرېښود.

(۲)

سبا ګهیخ (۹) بجې وې، هوشنګ خفه معلومېده، تندی یې نیولی و او د پخوا په څېر یې پر شونډو شوخي او ډکه خندا نه وه، کوټې ته راننوت.

"سلام علیکم، ګهیخ په خیر!"

ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

_ صېب! زه لاړم، چې تاسو راولم، ځای و خو حریف نه و او زما تر تګ وروسته یې تېښته کړې، پیسې یې هم ورکړې، اخر ملګرتوب داسې وي، چې مېلمه دې هم وي او له جوبه لګښت هم وکړي؟

په خندا مې وویل:

_ خیر کړې الله... زما او ستا پیسې لاچا بېلې کړې؟

ځواب یې راکړ:

_ یار تاسو زما مېلمه وئ؟

په شوخۍ مې وویل:

_ که د پیسو له امله خفه وې، داسې وګنه، چې ستا له جوبه مې ورکړې وي، دا نو څه خبره ده.

تر وېلو-اورېدلو وروسته یې حالت یو څه نورمال شو، ویې ویل:

_ پوه نه شوم، پیسې مو له مانه زیاتې واچولې، خو پرته له شپې تېرونې مو ځای پرېښود!!

ومې ویل:

_ ګرانه! تاسو پر ما لطف وکړ، زه ستاسو پر ملګرتیا ویاړم، خو څه وکړم، خپل لاس مې نه دی، عادت ډېر بد شی دی، پرېښودل یې هم سم رنځ دی، زه تراوسه له داسې ښځې سره د شپې تېرولو جرئت نه لرم، ښایي ډارېږم به.

هوشنګ وخندل ویې ویل:

_ ډار!! ډار څه مانا لري او زیاته یې کړه، که خبره دې ومنم، نو بیا ولې له ما سره لاړې او خپلې پیسې دې لاهو کړې؟

په خندا مې وویل:

_ پیسې مهمې نه دي، خو باید ووایم او تاسو یې هم باید ومنئ، چې تر تاسو مې زیات خوند واخیست، باور وکړه، چې نازنین په رښتیا نازنین ده او له تاسو ډېر ممنون یم، چې له هغې سره مو اشنا کړم.

هوشنګ وویل:

_ زه پر هغې وقهرېدم، د خبرو له ګډوډۍ یې وپوهېدم، چې له تاسو سره یې بدسلوک کړی دی.

ځواب مې ورکړ:

_ وروره! په حقه وه، چې داسې چلن وکړي، ګناه خو زما وه، چې ناڅاپه مې یې د زړه پر تپ مالګه ودوړوله، ښه مې ونه کړل، چې په ټینګار مې هغه څه ترې غوښتل، چې پر ویلو یې نه وه راضي.

هوشنګ وخندل او په شوخۍ یې وویل:

_ فکر کوم، ته هم د پلټنې ښه افراطي رنځ لرې، اخر انسان چې داسې کوروونو ته خي، د نارامۍ لرې کولو او خوښۍ تېرونې لپاره خي. په تا یې څه چې هغه څه کاره وه او څه ډول ژوند یې درلود.

ومې پوښتل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

_ رښتیا! هغې ته دې بد او بیلارې ویلي او په قار شوې پرې؟

ویې ویل:

_ هو نو! ورور مې یې توهین کړی دی! او په خندا یې وویل:

_ ستاسو په خیال مننه مې ترې کړې وای؟

ومې ویل:

_ دا خو ښه ونه شول مجبور یم، چې ستاسو روغه وکړم او له هغې څخه بخښنه وغواړم.

دوه ورځې وروسته سهار وختي له کوټې ووتم، بازار ته لاړم او د نازنین لپاره مې ښکلې ښکلې ډالۍ واخیستې او د نومړې د پارتمان په لور رهي شوم.

خپله هم نه پوهېدم، چې په دې کار کې د څه لپاره بیړه او جلتي کوم، باید ووایم په غیر ارادي ډول د هغې د منزل په لور څکېدلم او غوښتل مې یو ځل بیا له هغې سره وګورم. باید اعتراف وکړم، چې د هوشنګ معذرت غوښتل او پخلاینه یوازې یوه بهانه وه، نور څه نه و، پردې پوهېدم چې ځان ته دوکه ورکوم، انسان دی په ژوند کې یو نیم ځل داسې پېښېږي، خدای- خدای مې کول، چې د نازنین په وړاندې بیا مزاحم نه شم.

په نه زړه مې د وره ترڅنګ زنګ کښېکاږه، د هغې مهیج او نازك غږ پورته شو، ویې پوښتل:

_ څوك یاست؟

ځان مې وروپېژانده، و ر مې پرمخ خلاص شو، ویې ویل:

_ صېب! مهرباني وکړئ!

زه هم کوټې ته ورننوتم، هغې په ډېرې حیرانتیا راکتل. په لاس کې نیولی کتاب یې ذ میز پر سر کښېښود، په مودبانه ډول یې "چې پر شونډو یې یوه نرۍ موسکا راخوره وه" وویل:

_ په خیر راغلې!! او ماته یې لاس راکړ.

په خندا یې وویل:

_ عجیبه ده! فکر مې نه کاوه، چې تاسو به ما وبخښئ او د بېوزلو دې جونګړې ته به تشریف راوړئ، زه ډېره سپېره یم، هغه شپه مې ډېر بدسلوك وکړ.

ومې ویل:

_ مېرمن نازنین! نیمګړتیا خو زما وه، له همدې کبله راغلم، چې بخښنه وغواړم او ترڅنګ مې له هوشنګ اشنا څخه خفه ونه اوسې، ما د هغه په وړاندې پر خپله ګناه اعتراف کړی دی.

په حیرانتیا یې وویل:

_ خدایه څه اورم! تاسو له مانه بخښنه غواړئ؟ رښتیا چې زه ونه پوهېدم او ستاسو په پېژندنه کې مې اشتباه کړې وه، انسانان ټول یو رنګ نه دي ښه انسانان هم شته. خو ډېر کم. صېب ته د ټولنې یوې منفورې ښځې ته د کورنۍ مېرمنې په شان د بخښنې لپاره راغلی یې، دا حق خان ته نه ورکوم. په خدای قسم، چې دا حق زه نه لرم، پر دې پوهېږم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په داسې حال کې، چې پر شهلايي سترګو يې اوښکو يرغل راوړی و او څاڅکي يې پر نازکو اننګيو راڅڅېدل او ستونی يې عقدې ځېراوه، د لاس په اشاره يې د کښېناستلو بلنه راکړه، په ډېر کړاو يې خپله خونسردي پرځای کړه، په شوخه ژبه يې وويل:

_ ومنه، چې ستاسو په وړاندې ډېره شرمنده يم، ښه شپه نه وه، حالت مې نورمال نه و، ډېر مې ځنبلي و، ستا ترتګ وړاندې بېسده وم، ګهيځ مې وليدل چې پيسې ټولې تيت پرک دي او تاسو تللي وئ، ټولې صحنې مې مخې ته راغلې، ومې ژړل او له زړه نه مې ستاسو بخښنه وغوښته. هيله مې وه هر ډول چې وي يو ځل تاسو وګورم، حتی د هوشنګ پېښو ته به ور ولوېږم، چې تاسو راولي او له تاسو بخښنه وغواړم، هوشنګ چې څنګه له پېښې خبر شو، په قار شو، جرئت مې نه شوای کولای، چې له هغه نه ستاسو د راوستو غوښتنه وکړم او مخامخ بخښنه درنه وغواړم، خو ښه شوه پخپله راغلې خوشاله مو کړم. باور وکړه، چې تاسو مې نارامه کړلئ، له ما څخه بايد دغه بې نزاکتي نه وای شوې. په شوخي يې وويل:

_ ښه، دواړه يو بل سره بخښو!

ومې ويل:

_ ډېره مننه!

له ښاره مې، چې کومې بکسې راوړې وې او د ميز پر سر مې کښېښودې وې، نازنين ته مې وروړاندې کړې او ورته ومې ويل:

_ دا څو ناڅيزه تحفې مې د هغو نارامیو په کفاره کې راوړې، چې تاسو ته مې پېښې کړې. هيله ده، چې ويې منې او ضمناً له هوشنګ ورور څخه ازاره نه وې.

بکسونه مې د دويم ځل لپاره د ميز پر سر کښېښودل جګ شوم، چې کوټه پرېږدم او لاړ شم، هغه هم جګه شوه، رنګ يې واوښت، په بنده ژبه يې وويل:

_ تاسو ماته تحفه راوړه؟ له مانه بيا بيا بخښنه غواړې؟ آ؟

_ تاسو له ما ته خوک يم او څه کسب لرم او تاسو له ما ته نه پوهېږې، چې زه خوک يم او څه کسب لرم او تاسو له ما سره د يوې کورنۍ پتمنې ښځې په توګه راشه درشه کوئ؟

غوښتل يې نور څه هم ووايي، خبره مې يې ونيوله، ومې ويل:

_ ته يو انسان يې، زه د انسانانو پر درناوي قايل يم. تا وويل، چې زه خوک يم، زه پوهېږم، چې ته د همرنګو ظلمونو او تيريو دې چار ته اړه کړې يې او که نه تا له دې کسب څخه ډېره کرکه درلوده، ته که هرڅه او هر څوک يې بالاخره يو انسان يې، ماته هر غمېدلی او ستم ځپلی انسان د درنښت وړ دی او زه يې پر درناوي قايل يم.

په داسې حال کې، چې لړزېدله او رنګ يې سپين اوښتی و، ويې ويل:

_ ستاسو له نيک نظره يوه نړۍ مننه، يوه کوچنۍ غوښتنه!

ومې ويل:

_ خواهش کوم، ووايه!

ويې ويل:

_ ژمنه وکړئ، چې منې يې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ومې ویل:

ولې نه، مهرباني وکړه، قول درکوم او فکر مې کړی و، چې څه ته اړتیا لري؟

په معصومه او خوږه لهجه یې وویل:

ـ خواهش کوم، چې نن زما مېلمه شې، یو پر یو، یو، څوك نه شته، چې یو د بله په خودماني خبرې وکړو، هیله کوم چې نن ځان ماته راوسپاري، پوهېږم مساپر یې، هوشنګ وویل ډېر کارونه لري.

ومې ویل:

ـ په زحمت نه شې، زما کارونه دومره مهم نه دي، نن نه، سبا. وپوهېدم، زما پر دې خبره ډېره خوشاله شوه، کله چې زه د دویم ځل لپاره پر کوچ کښېناستم، هغه هم کښېناسته، په مینه او لېوالتیا یې بکسونه خلاصول او په شوخۍ یې وویل:

ـ که تاسو زما غوښتنه نه وای منلی، ما هم ستاسو تحفې نه قبلولې. اوس مو چې مهرباني وکړه، زه هم دا دی ستاسو په خوښه ستاسو تحفې ګورم.

ومې ویل:

ـ خواهش کوم "شنه پاڼه د دروېش ډالۍ وګڼئ."

په شوخۍ یې ځواب راکړ:

ـ نه صېب! دغه شاهانه ډالۍ دي، چې ستاسو په وینا د ښکلاو ملکې ته مو د تحفې په توګه راوړې دي.

* * *

زه د هغې برګو سترګو بې سده کړی وم، نه پوهېږم زه ولې په دې تورو سترګو دومره مینېږم؟ آیا نور به هم دغسې تر اغېز لاندې راځي؟ او که...

غټ بکس یې راواخیست، کمیس او جاکټ یې تري راوایستل، یو ځل یې د فریاد په ډول وویل:

ـ دا نو لاښه نه دي؟ ته وایې "شنه پاڼه د دروېش ډالۍ" باور وکه ډېر ښکلي دي. له دې نه داسې مالومېږي، چې څښتن یې ښه لوړ ذوقی دی.

په وروکي بکس کې د سینګار یو څه ساز او سامان او یو دوه جوړه جرابې وې، ډېر یې خوښ شول او په وار وار یې د ننې څرګندونه کوله، خو بیا یې هم په سترګو کې اوښکې ... بدې، ومې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ ژاړې ولې؟ ته خو ډېره با احساسه ښځه یې، د خوښۍ پر مهال باید دومره متاثره نه شې!

ویې ویل:

ـ صیب! موږ بېکوره او بدمرغې ښځې له ژړا پرته څه لرو، چې ستاسو غوندې پرښته خویه ځوانیو ته یې وړاندې کړو. ډېرو راته ګرانبیه او قیمتي سوغاتونه راوړې، هغه ټول د یوه مقصد لپاره و، خو دغه سوغاتونه ماته ډېر ارزښت لري. باور وکه، چې ډېر، ډېر ارزښتناك دي. تاسو په دې سوغاتونو ماته نوې اروا رابخښلې، کله چې تاسو راځئ، زه به دا اغوندم، له هغې پرته یې نه اغوندم.

هر یو څیز یې څو څو ځله سره اړاوه او په تودو احساساتو یې مننه کوله، ته وا ماشوم؛ چې د لوبو پر شیانو یې زړه نه مړېږي، ډېره خوشاله وه، ستاینه او تعریف یې کاوه، ټول یې سره ورټول کړل او بلې کوټې ته ننوتله.

سوچ مې کاوه، ښایي ډالۍ به مې په الماری کې ږدي، لس پېنځلس دقیقې وروسته په داسې حال کې، چې په لاس کې یې چای او چاکلېټ و، راښکاره شوه. فکر مې وکړ، کومه بله ښځه ده او چای یې راته راوړ، ښه ورته ځیر شوم، نه، نه، همغه نازنین ده. خلاصې ښایسته جامې، سپین پرتوګ او سپین ټکري، یو بل رنګ او ښایست ورکړی و، سر او غاړه یې په سپین ټکري کې داسې پټ کړي و، چې سمه د ځوارلسمې سپوږمۍ ښکارېده. د ځنډ لامل یې هم همدا و، چې جامې یې اغوستلې. بې ارادې مې وویل:

ـ نازنین! باور وکه په دې جامو کې داسې ایسې، لکه له اسمانه کومه پرښته راکوزه شوې وي!

ویې ویل:

ـ خواهش کوم، یوه بدکاره ښځه د خدای له پرښتو سره مه پرتله کوه، ګناه لري، خو دا جامې زما د نېکمرغۍ او کور یادګاري جامې دي، ډېرې ارزښتمنې دي. د خپل مېړه او بچیانو په وړاندې مې همدغسې جامې اغوستې. دا خت (کمیس) او ټکری د همغو ورځو یادګار دی، چې تېرې شوې، څومره زر تېرې شوې، کله کله، چې زړه تنګې شم، ور بندوم، هېڅوك نه منم او دغه جامې اغوندم، ساعتونه، ساعتونه مې بوخته ساتي. په دې جامو کې ځان هغسې ګورم، لکه پخوا چې وم، ګېښتې، ګېښتې هیندارې ته درېږم، څه خوند کوي، چې انسان خپل وي او له ځان سره اشنا وي، بېګانه، نه وي. د نورو کریمونه پرمخ ونه وهي، درواغجن، ځانښودی او ټګمار نه وي.

زه په دې جامو کې روږدې وم، اوس یې هم، چې کله کله یوازې وم، په اونۍ کې یو دوه ځله اغوندم، له ځان سره خلوت کوم. څه وکړم یوازې یم، برخلیك مې همدغسې ځپلې پرېښې یم.

ترې ومې پوښتل:

ـ نازنین! تاسو چې اوس یوازې نه یاست او مزاحم هم درته ناست دی، نو دا جامې مو په څه منظور واغوستې؟

صمیمانه یې راوکتل او ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

_ نه صَبب! تاسو بې انصافي مه کوئ! تاسو نور مزاحم نه یاست، ته یو انسان یې، مینه ناك، لوړ شخصیت او ښکلی کرکټر لرې، مبالغه نه کوم، دا ومنه، زه له چاپلوسۍ او غوړه مالۍ څخه کرکه لرم، تاسو د خپل شخصیت ازموینه تېره شپه ورکړه. هوشنګ تاسو ته زما د وصل بلنه درکړه، ستاسو د شپې بیه یې هم پر ځان ومنله، زه حاضره شوم ځان ستاسو غېږې ته وسپارم، ستاسو د زړه راښکون او شهوت پارولو لپاره مې ډېر څه وکړل، له هېڅ شي مې سپما ونه کړه، څه مې چې په دې ښوونځي کې زده و، په کار مې واچول، خو تاسو خپل نفس ټینګ وساته او پروا مو هم رانه وړه.

ماته ډېر عجیب _ غریب خلك رادرومي، سپین ږیري، زلمیان، پرهېزګاران او نور عادي خلك... زه د هغوی د زړه راښکون لپاره هېڅ زحمت هم نه کوم، له فیس اچولو او راتګ سره سم راباندې ځملي، شهوت او هوس سم ځارویتوب ته را ایستلي، سړی نه وي، د هغوی موخه یوازې شهوت سړول دي او بس، خو تاسو پر خپل نفس د تسلط او اعتماد په زور زما د زړه تښتولو ټول هنر (چې ستاسو د ملګري "هوشنګ" په وینا مې په کار یووړ) له ناکامۍ سره مخ کړ او د یوه لوړ غره په شان له ځایه ونه خوځېدئ.

ما ویل ته به ډېر مادي وې، خو اشتباه مې وکړه. زیاتې او ډېرې پیسې دې واچولې، ستا سپکه مې وکړه، خو ته په صبر و اوسېله وپایېدې، په قار نه شوې او پردې سربېره دې بیا هم ماته ډالۍ راوړې دي.

په ژوند کې مې دا لومړی ځل دی، چې تر مېړه وروسته مې پر تا فکر وکړ، هغه مې مېړه و، خو ته له هغه نه په درجو درجو لوړ یې، هغه ډېر متعصب و، ژر غوسه کېده، چې دغه خوی یې زه هم بدمرغه کړم، خو ته په ځان کې د صبر یوه لویه هستي لرې، تا د ټولنې له یوې بدکارې او بدنومې ښځې سره گرای زلمی وې، خو څه اشتباه ده!! ما وې ټول نارینه له یوې قبیلې او یوه کرباسه دي، خو تا زما دغه خیال باطل کړلو، باید ومنم چې ما فکر کاوه ته به هوښیاري کوې او خپل بار به پر هوشنګ ورتپې، دا هم زما تېروتنه وه.

تاسو پخپلو پیسو سره دوه کاره وکړل، یو مو ځواني وکړه او بل مو خپل بار پر هوشنګ وانه چاوه. تاسو لاړئ ما ډېر ځښلي و، بې سده او لغړه پرېوتم او ستاسو تګ ته مې نه دی پام شوی. سهار، چې له خوبه راپاڅېدم، ستوماني او نارامي مې ختمه شوې وه، سر مې لږ درد کاوه، هغه مهم نه و، کله مې چې بستر پرېښود او سترګې مې پر تیت پرك نوټونو پرېوتې، تاسو راته مجسم شوئ، ټولې خبرې مې ذهن ته راوړې، ستاسو ملکوتي او راښکونکې څېره مې مخې ته ودرېده، باور وکړه نن ټوله ورځ له تاسو سره وم او ستاسو په هکله مې فکر کاوه. افسوس مې کاوه، چې ولې ستاسو وینځه او مزدوره نه یم؟ ستاسو د کوژدن خبره رایاده شوه، چې ویل مو زه له خپلې کوژدنې سره خیانت نه کوم. هغه وخت مې په ملنډو حسابولې، په رښتیا . چې ستاسو په مېړانه او وفا مې

(c) ketabton.com: The Digital Library

په زرګونه کیلومتره واټن ستاسو له ښځې سره کینه راغله همدا و، چې پر تاسو مې فکر کاوه، فکر او حواس مې ستاسو په لور و او په اصطلاح په یوه شپه کې مې ټول فکر بدل شو.

ضیب! هرڅه چې تاسو امر وکړئ، حاضره یم، ستاسو مهربانۍ او نېکو اخلاقو زه پر خپلو کړو وشرمولم، اوس هم ستاسو په وړاندې شرم احساسوم، خو تاسو پر دې دومره بدیو بیا هم په ډالیو ونمانځلم، تاسو ووایئ، چې زه ددې ډالیو لایقه یم؟!

نه! په خدای که، هېڅکله هم نه یم، تاسو د یوې بدکارې ښځې د بدسلوك په وړاندې نه دا چې منفي غبرګون دې ونښود، بلکې بالعکس مهرباني مو وکړه او ما بدکارې ته مو ډالۍ راوړلې.

ما هم پرېښوه، چې مه کړه د زړه بړاس وباسي، خبرې وکړي، ووایي، بیا هم چې هرڅومره غواړي کیسې وکړي، چې غمونه یې سپك شي.

نازنین غلې شوه، د تسلۍ په خاطر مې ورته وویل:

مېرمن! شکسته نفسي مه کوه، کله کله "طلا" په کثافت کې غوړځي او یا هم ګوتې په ډنډ کې ډوبېږي او ورکېږي، خو دا تصور باید ونه کړي، چې سره زر او الماس له کثافت سره خپل جنسیت او اصلیت بایلي او بدلېږي، خیر اوس خو ته بدمرغو لاسونو او د زمانې جبر د طلاق بدمرغیو ته راکېښلې یې، خو ماته همغه کورنۍ ښځه ښکارې، ته یوه مور یې او مور خو بیا له هرڅه سپېڅلې ده.

سر یې ښکته اچولی و او ژړل یې، زما په ځواب کې یې یوازې دومره وویل:

_ دا ستاسو "حسن نظر" دی، زه نوره ککړه شوې یم، له ځانه بېزاره یم، له ځانه کرکه لرم، څه وکړم.

له سوزه ډك اسوېلی یې وایست، وې ویل:

_ هغه ورځ ګهیځ هوشنګ راغی، سره له دې، چې بد او بې لاري یې راته وویل، خو بیا مې هم غوښتل تاسو ومومم او بخښنه درڅخه وغواړم، لږ ځنډ وروسته یې وویل:

_ تاسو د خپلو ښېګڼو د اثبات لپاره ډالۍ راوړې، زه هم غواړم د خپلو ګناهونو کفاره ادا کړم، زه ستا په اختیار کې یم، غواړم د خپلې توري او بدمرغې ورځې کیسه درته وکړم، آیا زما د ژوند کیسه ستاسو د وخت پر ضیاع ارزي؟

ومې ویل:

_ مېرمن! زه یوازې د څو شېبو لپاره معذرت غوښتنې ته راغلی یم، ستاسو نارامي نه غواړم، زه پوهېږم، چې دغه کیسه به دې وکړوي، پرېږده یې ترې، تېره شه!!

ویې ویل:

_ نه صیب! ما تصمیم نیولی، چې تاسو ته به خپله کیسه وایم، خو په دې شرط، چې غوږ ورته ونیسې او ارزښتمنه درته واوسي.

ومې ویل:

ولې نه مېرمن! ماته ستاسو ژوند پېښې ډېر ارزښت لري، د دې لپاره چې ولې مو خاوند یوه دغسې نازنینه معشوقه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پـرېښوه او ماشـومان يـې تـرې واخيسـتل، کـه ماشـومان دې درسره وای ولې به پر دغو کارونو اغېرنېدې، تـه بـه هـم يـوه مـور وای او مور خـو بيـا ماتـه ډېره سپېڅلې هسـتې ده.

تـر غرمنـۍ او چـای څښاك وروسـته زمـا پـر منفـي ټينـګار سربېره، نازنين دې ته چمتـو شـوه، چې خپلې تـېرې ژونـد پـېښې راته ووايي.

(۳)

نـازنين تـر يـوه اوږده اسـويلي وروسـته، چـې د هغـې ژور تاثرات يې څرګنـدول وويـل:

_ څه ووايم؟ له کوم ځای يې پيـل کـړم؟

ومې ويـل:

_ خپلې تـېرې ژونـد پـېښې!

ويې ويـل: تـېر شوي!! آيـا زه لـه اوس پرتـه تـېر هـم لـرم، ګومـان نه کوم، چې تـېر دې ولرم، تـېر وختونـه لـه خيـالي خوابـه زيـات نـه و.

ومې ويـل: ولـې مېرمـن همدغـه ستاسـو سرګذشـت دی، چـې اوسنی ژونـد مـو تـرې رازېږېدلـی دی. زياتـه مـې کـړه: زمـوږ او تاسـو هـرڅه پـه تـېر پـورې اړه لـري، ښه، بـد، ښکـلا، نېکمرغـي، بدمرغـي، غـم، خـوښي، نـارامي، بېکـوري، دښمنـي، دوسـتي او هـرڅه مـو د تـېر او سرګذشـت حـاصل دی، لاړمـه نـه ده چې انکـار تـرې وکـړو. ښايـي ستاسـو ژونـد پـېښې غموونکـې وي، خـو زيـاتره دا زمـوږ خپلـه بـې پروايـي ده او يـا خـو د نـورو لـه خـوا

راتپل شوی برخليك وي. مېرمن! که تـېر مـو نـه لرلی حال بـه مـو هم نه و.

ويې ويـل:

_ تـه سم وايې، سرګذشـت مـې ننني ژونـد جـوړ کـړ، لـه اوږدې چوپتيا وروسته يې وويـل:

صـېب! لـه سـريزې بـه تـېر شـو، د خپـل ماشـومتوب خـاطره نـه لرم، په يوه متوسطه مذهبـي کورنـۍ کـې زېږېدلـې يـم، د لمانځه پر وخت به مې لـه مـور او پـلار سره درېدم، دوی بـه چـې څه کـول ما به هم همغسـې کـول، لـه مـور څخـه مـې پـت او حيـا زده کـړل، پلار مې لـه خـدای ج او مقدسـاتو سره اشـنا کـړم. ښکـلا مـې پـه قـام او ګاونـډ کـې مشـهوره شـوله، ډېر شـتمن ريبـاران راتلـل. پلار مـې پيسـه دوسـت نـه و، سـره لـه دې چـې متوسط ژونـد مـو درلود، پلار بـه مـې ويـل زه خپلـه لورمسـلمان او شـريف زلمـي تـه ورکوم، پيسـې ماتـه ارزښت نـه لـري.

مېره مې، چـې خوان و، د انجنيرۍ پـه څانګه کـې يـې ديپلوم اخيسـتی و، زمـوږ لـه لـږ لـرې خپلوانـو څخـه و، مـور يـې پـه ريبارۍ راغله او پلار مې ورتـه پـه نـوم کـړم.

مېره مې شرمناك سړی و، لـه خپـل ګـار سره يـې مينـه درلـوده او پـه همـدې ترڅ کـې پتمـن او باحيـا سړی و، د نـورو زلميـانو پـه څېر يـې د چـا نـاموس تـه سـترګې نـه اړولـې. خـو دا يـې هـم نـه شـوای زغملـی، چـې چـا دده نـاموس تـه پـه بـدو سـترګو کتلـې وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

گهیخ به تر لمانځه او چای څښلو وروسته خپل کار ځي ته تله، مازیګر او ماښام ته نږدې وخت به بېرته کور ته راتله. له ما سره یې بې حده مینه کوله، خو د بېلتون تر شېبو پردې ونه پوهېدم، چې ما ډېره خوښوي او که خپل کار؟ فکر کوم دواړه یې خوښېدو.

څو کاله مو په خوښۍ او خوشالۍ سره تېر شول، رښتیا مور په کور کې درې کسه و، زه، خاوند او خوابښې مې، خو وروسته خدای یو دوه بچیان هم راباندې ولورول، زموږ کور ورو، ورو د سکوت پر ځای د سکون رڼا موندلـ، د پلار په کور کې به مې د مکتب ترڅنګ له مور سره په اخلي پخلي کې مرسته کوله، مور به مې راته ویل، چې لورې سبق او مکتب ښه شی دی، خو ښځې باید اخلی پخلی هم زده وي، خندل یې ویل به یې ښځه که بې سواده هم وي، خو پر کار او اخلي پخلي که برلاسې وي، بې سوادي یې تر پردې لاندې راولي، خو په کورنیو کارونو کې د ښځې ټمبلي او ناغېږي بیا سبق نشي جبرانولی.

ومې ویل مېره مې وکړ، د ماشوم څښتنه شوم او له ماشوم سره مې تر ځانه زیاته مینه کوله، د ژوند څرخ اوښتلو او زه یې له نویو انقلابونو څخه ناخبره وم، ما ویل ژوند به مې تل دغسې خوشاله او سوکاله وي، ددې څو کالو په تېرېدو کې مې پلار او مور هم له نړۍ نه سترګې پټې کړې، د ژوند د لیندۍ رومبنی غشی مې پر سینه ولګېد، ډېر مې وژړل، خو ځای یې خوږ خویه مېره او ماشوم مې ونیو. د نږدې مربیانو تر

مرګ وروسته مې زړه ماشوم ته ورکړ، خوابښې مې بوډۍ وه، تل به پر سجده پرته وه، ذکر یې کاوه او د تسبې اړولو ترڅنګ یې ماشوم هم غلی کاوه.

زه به د کور پر کارونو، اخلي پخلي او پر لوښیو پرېمینځلو بوخته وم، مېره مې سربېره پردې، چې یو ټولنیز او مېلمه پال سړی و او په فابریکه کې یې زیات همکاران لرل، کور ته به یې بېګانه خلک نه راوستل، ده به ویل چې نن سبا دوستي او ملګرتیا د قاف غره د عنقا په څېر دي، تل به یې دا شعر وایه:

هر سړی تر خپل مطلبه کا یاري
دا د نن خلکو کې نشته دلبري

صېب! شپه مو برات وه او ورځ مو عید ګڼلو، د والدینو تر مړینې وروسته مې له کورنۍ سره زیاته مینه وه، د شپې له راتګ سره مې د مېره دقیقه شماري کوله، چې کله به راغی، طبعاً به ستومانه و، د هغه د سترپا لرې کولو ټول وسایل به مې برابر کړي وو، تر ډوډۍ او چای څښاك وروسته به دواړه د خوب کوټې ته تللو او د خوب لپاره به مې دده غېږې ته پنا وروړله، څلور کلن زوی به مې له خوابښې او وړوکی ماشوم به مې له ځان سره څملاوه.

صېب! تاسو مې پر ځان ستاینه تورنه، نه کړئ او که ووایم ما متوسط ژوند خوښاوه او د نورو ښځو په څېر مې له مېره زیات څه نه غوښتل، د هغه پر تنخوا، د کور لګښت او نورو مصارفو باندې ښه پوهېدم، له ښایسته ژوند او زرق و برق نه مې کرکه درلوده، میاشتې، میاشتې له کوره نه وتلم، زه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهېدلم، چې مېړه مې له ما سره زیاته مینه لري او نه غواړي د کوم نامحرم سترګې پرما ولګي. د مړي ښادۍ په مسالو کې هم زیاتره له کوره نه وتلم، خو که ډېر نږدې دوستان به مو و، له خوابې سره به مې په چادري کې تللم. زیاترو خلکو به ویل، چې دا یوه ټولنیزه ښځه نه ده، زما دا کار یې نه خوښېده، خو ما به د کور جنجالونه او مصروفیتونه ورته پلمه کول.

دا و، زما د ژوند نچوړ، تر دې، چې...

ناڅاپه نازنین غلې شوه او زه د یوه ښه اورېدونکي په توګه ددې خبرو ته غوږ وم.

تر لنډ څنډ وروسته یې وویل:

صېب! چې څه دې واورېدل، دا زما د ژوند ړومبنۍ برخه وه، کاش ټول ژوند مې همغسې تېرېدلی، خو برخلیك او تقدیر ووایم که خپله ښکلا او بدې تالې، چې ژوند یې راپورې سور اور کړ، زه د ژوند پر تف کولو سلګو نه ژوندي دلیلونه لرم، سخ پر هغه څه، چې راڅخه لاړل! موسکا پر هغو، چې رادرومې! هو! ټول ژوند همدغه دی!!!

وایي ډېر ځله کېدای شي، بدي په خوښیو بدله شي، خو پستي یو داسې ځیز دی، چې له پستي پرته بل څه نشي پسې رسېدلای.

صېب! باور وکړئ، ځینې خلك پر ژوند داسې تپ خوړلي دي، چې رغون یې ناشونی دی او د غم او اندېښنو په لړ کې جسم او اروا خوري.

وایي بې باکي د ژوند تباهي ده، بې پروایي سترګې رندوي، ژبه ګونګوي او له فکر څخه ټوره شپه جوړوي، باید اعتراف وکړم، چې زه یوه بې باکه ښځه وم او بې باکي مې ژوند راتباه کړ.

مخکې مې وویل، چې یو ساده، ارام او له سکون څخه ډك ژوند مې درلود. له هېڅ شي مې وېره نه وه، تر دې، چې توپان پیل شو، باد والوت او زما ژوند او زما د ژوند ریښې یې رامړاوې کړلې.

یو واز یې بې له مقدمې وپوښتلم:

ـ صېب! تاسو کله په ژوند کې توپان لیدلی دی؟ او له هغې سره مخامخ شوي یاست؟ زیاته یې کړه:

ـ وحشي او خواکمن توپان تر الوت وروسته څه پرېږدي؟

ومې ویل:

ـ دا خو ښکاره خبره ده، چې توپان له ځان سره بد نوم راوړي او تر الوت وروسته مرګ، ژوبله، ورانی او بربادي پرځای پرېږدي.

په داسې حال کې، چې ژړل یې ویې ویل:

هو! همدغسې ده. زما د ژوند توپان پیل شوی و، ترڅو مې چې سترګې ور اوړېدلې هرڅه یې راڅخه اخیستي و، نېکمرغي، ارامي، سکون، شرافت او بالاخره مېړه، کور او ماشومان هرڅه یې راڅخه یووړل، حتی پت یې هم راڅخه لوټ کړ، هېڅ شی یې هم راپرېښنبود.

ما په حیرانتیا وپوښتل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

نازنین توپان هومره وحشتناك و، چې ستا هرڅه یې برباد کړل او هېڅ هم درپاتې نشول؟

ویې ویل:

هو ښاغلیه! هېڅ یې هم راپرېښېودل، ان لا د ځیګر ټوټې یې هم راڅخه وتښتولې.

زه په ټولو حواسو د نازنین داستان اورونې ته غوږ وم. غوښتل مې پردې وپوهېږم، چې نازنین مجرمه ده او که مېړه یې؟ دا زما ګټه وه باور مې و، چې یو به یې نېمګړی او مجرم وي، زیاتره وخت له انسان څخه اشتباه کېږي، له اشتباوو څخه هېڅوك هم خالي نه دی، خو له پلټنې او پوښتنو پرته د چا محکومول هم یو ظلم دی.

ومې ویل:

_ مېرمن نازنین! رښتیا چې ستاسو ژوند پېښې ډېرې غمونکې دي، خو که نه غواړې او یا ترې زړخوږینې کېږې، نو بیا به یې بل مناسب وخت ته پرېږدو!

* * *

په داسې حال کې، چې ژړل یې او شهلایي سترګې یې له اوښکو څخه د وینو د سرو کاسو په څېر ډکې شوې وې، زړه مې پرې وسوخېد. نه مې غوښتل تر دې یې زیاته وکړوم، ددې د تسلي او د ځان د قناعت لپاره مې وویل:

سمه ده ژړا او اوښکې بهول ستاسو د زړه بړاس وباسي، اروا ته مو سکون وربښي او اعصاب مو ارامو‌ي، خو تاسو باید خپل ځان کابو وساتئ، تېر تېر شول او تاسو د نن له ژوند سره مخ یاست.

یو څه عقده یې راکمه شوه، ویې ویل:

صیب! دومره مې ژړلې، چې فکر کوم د سترګو د اوبو چینه مې وچه شوې او یا هم ړنده شوې ده.

زه په سوچ کې ډوب وم، مخکې مې هم سل په سلو کې باور و، چې ښایست داسې څیز نه دی، چې تر تله دې پټ

(c) ketabton.com: The Digital Library

وساتل شي، بیا خو ښځې ډېره هڅه کوي. خپل ښایست پر خلکو ووینې، نازنین هم یوه ښځه ده. ښایي په کوم مجلس، غم ښادۍ کې یې پر چا زړه بایللی وي او یا چا په سرو سپینو تېر ایستلې وي، ښېګڼې او بدګڼې یو نه یو وخت جوتېږي، څوك خبر که مېړه یې پرې خبر شوی وي؟

زه په ژور سوچ کې ډوب وم، چې تر لږ ځنډ وروسته یې وویل:

_ څه سوچ کوئ؟

ومې ویل:

د ځوانۍ د عشقونو، د کوچنیو دروغجنو عشقونو په اړه!

خبره مې یې ونیوله، په توندې لهجه یې وویل:

لعنت پر عشق! لعنت پر عاشق! لعنت پر هغو انسانانو، چې د خپل هوس او نفس مخه نشي نیولای او د دروغجنو هوسي عشقونو په نوم د پېغلو ژوندونونه بربادوي...

فکر مې وکړ، ښایي پر ځان به هم لعنت وایي، د ډاډینې په توګه مې ورته وویل:

ولاڅه وکړو، ژوند له اشتباهاتو ډك دی، خو...!

ویې پوښتل:

خبره مو پوره نه کړه، خو یانې څه؟

ځواب مې ورکړ:

داسې اشتباوې هم شته، چې د ژوند تر پایه نشي جبرانېدلای او د څښتن لپاره یې پښېماني هم ګټه نه لري.

ترخه موسکا یې وکړه، ویې ویل:

صیب! ته هم په اشتباه کې یې او ستاسو د برداشت تصورات هم غلط دي.

نه مې غوښتل نوره یې ورنځوم، ومې ویل:

ښایي مېرمن اشتباه مو ترمنځ پېښه شوې وي.

ویې ویل:

ښایي نه، بلکې په یقین سره زما په اړه ستاسو ګومان یوه اشتباه او تېروتنه ده.

غوښتل مې موضوع بدله کړم، ترې ومې پوښتل:

تاسو د خپل ژوند د توپان په اړه څه ویل؟

ځواب یې راکړ:

هو! توپان راغی او زما د ژوند، ونه یې له بېخه راوایستله.

ورزیاته مې کړه:

مېرمن له توپانه، نه ښایي بله تمه ولرو، د توپان له نومه، خرابي، ورانی نشتې، مرګ او په پای کې د وینو او اور ایرې منځ ته راځي.

په غمجنه لهجه یې وویل:

ماته یې اړه هم پرېښوه، چې خان پرې تود کړم، مخالفو بادونو مې د کور ایره هم والوخوله، باور وکړه زه ډېره بې وزله یم.

ومې پښوتل:

تاسو ونه ویل، چې دا توپان له کومه را والوت، له کومه پیل شو او په پای کې په کوم منزل تم شو؟

ویې ویل:

(c) ketabton.com: The

ډېره بېره دې ده، چې وپوهېږي. آ، ښه غوږ ونیسه!! یوه ورځ مې د بام پر سر جامې مینځلې، غټ ماشوم مې مخامخ ناست و او خوږې خبرې یې کولې، کوچنی ماشوم مې له خوابې سره په کوټه کې ویده و، زه بې غمه او د توپان له څپو څخه ناخبره له ماشوم سره پر خبرو لګیا وم او جامې، مې مینځلې. د مینځون پر مهال مې د دودیزې عامیانه سندرې هم له ځانه سره زمزمه کولې، ښه خوشاله وم، ښه مې یاد ېږي، چې پردې ټولو سربېره بیا هم په زړه درزېدم، نه پوهېږم ولې؟

لامې جامې مینځل پای ته نه رسولې، چې ترڅنګ مې کوچنی تیږه ولوېده، شاوخوا مې وکتل څه مې تر سترګو نه شول، فکر مې وکړ، ښایي کوم ماشوم دغه کار ترسره کړی وي، بې پروا پر خپل کار بوخته شوم،له ماشوم سره مې خبرې کولې، د هغه ماشومانه کلیمې، چې ماته څومره ارزښت درلود، ښایي ته یې ونه انګیرلی شې، ځکه ستاسو په وینا تاسو لاتراوسه د ښځې او ماشومانو څښتن نه یاست، با احساسه مینډې پرې پوهېږي او ډېر زر یې احساسوي.

کاش پښه مې ماته وای او په هغه ورځ بام ته نه وا ختلې، خو نه وروسته معلومه شوه، چې دا یو تصادف نه و، بلکې پیلامه یې له وخته جوړه شوې وه.

په تادۍ مې ترې وپوښتل:

تاسو وویل، چې کوچنی تیږه مې ترمخ پرېوته او تاسو په بې پروایی. خبره مې غوڅه کړه، ویې ویل:

هو! همغې کوچنی تیږې نېکمرغې او سعادت راڅخه واخیستل او زه یې دغې تباه کوونکې ورځې ته کښېنولم. لږ څنډ وروسته بله تیږه او بیا بله هم زما په مخ کې وغورځېده، زه وویرېدم، چې ماشوم ته مې څه زیان ونه رسي، له ځایه پورته شوم، شاوخوا مې وکتل، چې د تیږې اچولو دلیل ومومم، خو څه مې تر سترګو نشول، زړه مې درزا کوله او د زړه پر دغه شور او اوښتون باندې نپوهېدلم، یوازې زموږ مخامخ کور زموږ تر کور لوړ و او ورسی بې زموږ پر خوا پرانستې وې، غوښتل مې پر کار پیل وکړم، چې بیا مې تر مخ تر نورو هغو غټه تیږه راپورېوته، ژر مې د ګاونډ کور ورسیو ته پام شو، ګورم چې را ایستل شوی لاس په بیږه بېرته نتوښتل شو.

فکر مې وکړ کوم بې ادبه ماشوم زما د ازارولو لپاره دا کار کوي، په غوسه شوم، ورغږ مې کړل:

ای د بې ادبه زویه! مور دې همدغه درښوولې، چې ګاونډیان ازار کړې، که پر زوی مې څه وشولو خدای چې پلار خو به دې په نارو راولم.

مخ مې پورې مخامخ ورسی ته نیولی و، ځکه له همغه ځایه تیږه راوغورځو شوه، په همدې حال کې د ورسی له اوسپنیزې پنجرې سر راڅرګند شو، چې کوچنی ماشوم او هلک هم نه و، سم دم خوان و، ویې ویل:

په خدای نازنین پخوا تر دې، چې پلار مې په چیغو راولې، زوی یې لېونی شوی، زه دې زړه سوی عاشق یم، میاشتې

(c) ketabton.com: T

کېږي چې زه دې وینم او هره ورځ ستا د ښکلا او حسن ننداره کوم، خوب او ارام راڅخه تښتېدلی، نن مې صبر پای ته ورسېد، نور ستا بېلتون نشم زغملی او که مړ شوم ګناه به مې ستا پر غاړه وي.

زه په غوسه شوم ورته ومې ویل:

لوپره! بې ادبه! نه پوهېږي، چې زه مېړونه یم او خپل مېړه پالم؟ ته پر ما مین شوی یې! بې حیا!!

ویې ویل:

پوهېږم مېړه دې... دی، کار یې څه دی، څو بچیان لري او په کور کې څو تنه اوسېږئ، په ټولو پوه یم.

په حیرانتیا مې وویل:

بې پته! پردې دومره پوهېدا او معلوماتو سربېره دې بیا هم له بې حیایي او فضولو څخه لاس نه دی اخیستی.؟

ځوان په ځواب کې وویل:

نازنین! ښایسته مېرمنې! ته پر خپل ښایست نه یې خبره! ته څه پوهېږې، چې پر خپلې ښکلا د خلکو په زړونو څه قیامتونه راتیتوې؟

زیاته یې کړه: په خدای ج قسم که ۷۰ کلن شېخ او سل کلن زاهد هم تا ووینې، د کرارۍ توان به ترې سلب شي، خدای ته وګوره پر ما ورحمېږه!!!

صېب! زما د ټولو بدمرغیو سرچینه زما ښکلا ده، چې خدای نه وای راکړې، ښه به و. سره له دې، چې ښځې د ښایست او ستاینې له کبله خوشالېږي او خوند وړي، خو زه

غوسه شوم احساسات مې کنټرول نه کړای شول، څه بدې کلیمې مې، چې پر ذهن راګرځېدې او څه پنوچې ښکنځلې مې چې په یاد وې او پر خوله مې راتلې، پرې ور ومې شړلې، ناوینځلې جامې مې سره راغونډې کړې او په غوسه مې د بام سر پرېښود. کله مې، چې خوابې وپوښتلم، چې له کاره فارغ شوې، له شرم او حیا او که سم ووایم له بې ارزښتوبه مې پېښه ورته بیان نه کړای شوه، ناروغې او ستړیا مې پلمه کړل. هغه او څو نورې ورځې مې د بام سر پرېښود.

د وینځون ټولې چارې مې سره له دې، چې انګړ مو تنګ و، په غولې کې سرته رسولې او دا زحمت به مې پر ځان ګاله. یوه اونۍ وروسته په دې خیال، چې زلمي به نور له مزاحمته لاس اخیستی وي، بیا بام ته وختلم، خو څنګه مې چې پر کار پیل وکړ، بیا بې له ورسې څخه سر راوایست او هره شېبه راڅخه جار وتلو، د نورو ورځو برخلاف نن یې په عذر او زارۍ او په ژړاوو پیل وکړ، ما هم په ډېرو سپکو ښکنځلو او بدو ردو خواباوه، میاشتې ووتلې، خو ځوان له دغه کاره لاس وانخیست لکه چې مستانه ځوان بل کار نه درلود، زما په انتظار و او تل به یې زه څارلم.

باور وکړه، د ځوان تر ستاینو او صفتونو مخکې مې ځان ته دومره پام نه و، چې رښتیا زه به دومره ښایسته او جذابه وم، خو د نوموړ تر زیاتو مبالغه امېزو او یا هم رښتینو ستاینو وروسته مې یقین راغی، چې والله ښایست لرم او باید ومنم، چې له دې امله په زړه کې خوشاله هم شوم.

(c) ketabton.com: Digital Library

بل خوا مې ډېر کوښښ کاوه، چې خوابې مې له پېښې خبره نه شي او له ځانه سره مې ویل د یوې مېړونې ماشوم لرونکې ښځې لپاره دا ډېره عجیبه ده، چې څوك دې پرې مین شي او بل پر خاوند مې هم ښه پوهېدم، چې په دې اړه ډېر معتصب او غیرتي دی او که پردې خبر شو، هلك به له وژلو پرته پرېنږدي.

کاشکې دا خبره مې خاوند ته کړې وای او دې ورځې ته نه وای رارسېدلې، خو د نفس کمزوري او که غوره ووایم ډار او وېرې پرېنښودم، چې دغسې کار وکړم، ځکه د هغه پر حساسیت پوهېدلم او وېرېدم هسې نه هلك ووژني او یا ځان ته څه زیان ونه رسوي.

له ځان سره مې ویل، چې څه زما بې پروایي به یې خپل پر ځای کښېنوي او له سترولو به مې لاس واخلي، څه بې کوم چې ځان پخپله بدنوموم.

پوهېدم، چې نارینه زیاتره مهال په دې اړه یو اړخیزې پرېکړې کوي او پر ښځو بدګومانه وي، له خوابې مې هم وېرېدم، په غوږونو یې سم نه اورېدل، پرهېزګاره او سجده پرېوتې ښځه وه، تل به یې په لاس کې ۱۰۰ دانه تسپې نیولې وې او "الله، الله" به یې ویل، ما ویل پر خبره پوه نشي هر ډول، چې وي مساله باید پخپله حل کړم.

یوه ورځ مې خوابې د خپلوانو د یوه نژدې ناروغ پوښتنې ته تللې وه، په کور کې یوازې وم، له ځان سره مې وپتېیله،

چې هلك پر خپلو بدو وپوهوم، چې له مانه لاس واخلي او رسوایي راپېښه نه کړي، په همدې خاطر بام ته وختلم.

هلك، چې زما عشق جنون او لېونتوب ته ورسره وړی و، ته وا زما په انتظار وي، سر یې له پنجرې (ورسی) راوایست، سلام یې وکړ او "سهار په خیر" یې وویل.

فکر مې وکړ، چې تشدد او احساساتو خو کار ونه کړ، راځه دا ځل له تدبیره کار واخله، ګوندې هلك لارې ته سیخ شي. علیك مې ورته مې ورته ووایه، هلك زما له دغې راشه درشې هېښ پېښ شو، که پنجره لرې لویه وای ښایي له هینښتیا او حیرانۍ لاندې راغورځېدلی وای، خو پر هغو سربېره هې بیا هم رډ رډ راته کتل او ښایي داسې تصور به یې کاوه، چې په مقصد ورسېدم او نازنین راسره جوړه شوه.

له حیرانۍ مې وژغوره، ورته ومې ویل:

ګوره وروره! ته زموږ دېوال په دېوال ګاونډی یې، په اسلام او ټولنیز قانون کې د ګاونډیو حقوق ارزښتمن ګڼل شوي دي او لازمه ده یو ګاونډی د خپل ورور ګاونډي له پټ او ناموس څخه داسې ساتنه وکړي. لکه څنګه یې چې د خپل ناموس او پټ او عزت څخه کوي. ماته پته ده، ستاسو پلار ډېر مسلمان سړی و، د سیمې خلك ترې ښې خاطرې لري. له هغه نه زیاته شتمني درپاتې ده. کولای شې له هغې څخه په استفادې سره د ښار ښه ښکلې جینۍ خان ته واده کړې او د خپل پلار او کورنۍ نوم سپېڅلی او روښانه وساتې. ته وایې چې زه ستا عاشق یم. ژوند پر هر چا داسې ورځ راولي، چې عشق یې

(c) ketabton.com: T

پوښتنې تـه راځي او د زړه د درشـل ور يـې ورټکـوي، کاشـکې ما مـېړه نـه درلـودای، ازاده وای او کـوم وجدانـي مسـوليت هـم نـه درلـودای، اوس نـاوخت دی، مـېړه لـرم، د دوو ماشـومانو مـور يـم، دا يـو سـپېڅلی نـوم دی، لـه ماشـومانو او خـاوند سـره مـې مينه لرم، هغه پالم او په وفاداری ورسره پايم، تـر هـرڅه وړانـدې پـه خپـل نـاموس او عـزت تکيـه کـوم، تـه بـايد يـوې ماشـوم لرونکـې او ميـړوښې ښځې تـه پـه بـدو سـترګو ونـه ګورې. تراوسـه چـې هـرڅه تـېر شـول، زه د ګاونـډيتوب پـه پـاس تـرې تـېره يـم او تاسـو د خپـل بلـوغ او بـې تجربـه ګی لـه املـه بـښم، تـر دې وروسته کولای شـې ماتـه د يـوې مـهربانې او زړه سـواندې خـور پـه سـترګه وګورې او زه بـه هـم تـا د يـوه مـهربان او زړه سـواندي ورور پـه تـوګه پېژنـم.

هلك، چې تـر دې مهالـه مـې خبرو تـه غـوږ غـوږ و، يـو ځل لـه مقدمې پرته په هوسناکه لهجـه وويـل:

نـازنين! زه سـتا يـو نـاکراره عاشـق يـم، مياشـتې وشـوې، چـې تـا وينـم او لـه سـترګو مـې دې خـوب تښتولـی دی، مخکـې دې وويـل چـې پـلار مـې زياتـه شـتمني راتـه پـرېښې، کـور، باغونـه، سـره، سـپين هـرڅه لـه تـا ځار وي، زه خـور او بلـه ښځه نـه غـواړم، زه دې مـين يـم، تـا غـواړم او لـه مـېړه سـره دې د دوسـتۍ پـه لاره کـې هـم نـه خنډېږم، خـو هيلـه کـوم، کـه ښځه کـېږې مـې نـه، لـږ تـر لـږه خـو يارانـه راسـره وکـړه.

ومـې ويـل:

وروره ونـه پوهېدې!! درتـه ومـې ويـل، چـې خـوا خـوږې او خـور دې يم، د خورولۍ لـه دوسـتۍ نـه چېرتـه بلـه غـوره دوسـتي شـته، ها؟

ځواب يې راکـړ:

زه د خورولـۍ دوسـتي نـه غـواړم، تـه وايـې چـې د خورولـۍ او ورورولـۍ تـر دوسـتۍ بلـه غـوره دوسـتي شـته؟. هـو، ملـګرې، معشـوقه!

خبري مې يې په سختۍ سره غوڅې کړې ومې ويل:

تـه غـواړې زه سـتا معشـوقه شـوم، هـا؟

ويې ويـل:

څه کـېږي، کـه مـېړه دې پـالې، ماشـومانو تـه هـم وررسـې او پـر مـا هـم يـو څه لطـف وکـړې. ګوره زه بـه لـه ټولـې شـتمنۍ درځار شم، ماتـه پتـه ده، چـې مـېړه دې لـه سـهاره تـر ماښامـه کـار کـوي او پـه پـای کـې يـو نـاڅيزه معـاش اخلـي، پـه خنـدا يـې وويـل، تـه چـې د ښار لـه ټولـو مېرمنـو ښايسـته يـې پکـار ده ښکلـې جـامې واغونـدې، د سـرو سـپينو بنـګړي او بـاهوګان ولـرې، خـو خـير! دا بـه زه درتـه واخلـم، دا څه خـبره ده.

ومـې ويـل:

تـه غـواړې نـاموس وپلـورم، پـر ماشـومانو مـې کـرښي وباسـم او د خپـل مـېړه امـانت پـه سـرو سـپينو وپلـورم.؟!

ويې خندل، زياتـه يـې کـړه:

دا څه خـبره ده، هـرڅه دې وي، خـو مـا هـم ومنـه، هـر څوك دغسـې چـانس نشـي ترلاسـه کـولای، هوښيـارې ښځې نـه غـواړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټول عمر یو مېړه ته کښېني او خپل ژوند او ښکلا پرې تباه کړي، ښایسته نجونې چالاکې او زیرکې ښایي، چې له خپل ښایست څخه په موقع استفاده وکړي.

_ ته وایې هم دې مېړه ولرم، هم عاشق!!

ویې ویل:

څه فرق کوي، ګل هر څوك بویوي، دا خو ظلم دی، چې ګل دې یوازې د یوه تن وي او نور دې لاس نه وروړي.

ومې پوښتل:

غواړې زه ستاسو معشوقه واوسم؟

په زوره یې وخندل او ویې ویل:

ستاسو خوښه، چې هر نوم ورته ټاکئ، خو زما هدف منه ده، منه چې له هرې ونې وي.

نور مې زغم پای ته ورسېد، اور نیولې وم او وجود مې یې ور نغلو، تاسو باور وکړئ، چې له ځان او ماشومانو مې پر ناموس ډېره نازېدم او دا لومړی ځل و، چې په ژوند کې یوه لوچك زلمي په هوس لړلو خبرو لمانځلم، خبري مې یې غوڅې کړې، لړزېدم او لېونتوب ته نژدې شوې وم، خدایزده څه بدرد مې ورته وویل، بدې او چټې ښکنځلې مې له خولې ورووتې، ورته ومې ویل:

ای لوېره، نه پوهېږې چې د یوې ښځې پت او ناموس له ملیاردونو پیسو سره نشي برابریدلای، زه زر ځله پر خپل بېوزلې ژوند ویاړم او له تا کرکه لرم، څه ورك شه رنګ دې لرې کوه، ښځه چې پت ونه لري، نو ورپاتې څه شول؟

هلك چې زما ټولو سپکو سپورو ته غوږ و، په جدي ډول یې زما خبرې غوڅې کړې او ویې ویل:

نازنین! زه بل بدعادت هم لرم، اوس مې چې هوډ کړی ستا واصل واوسم، یا خو به وصل شم او یا به ومرم، دا زما کلك هوډ دی، هرڅه چې کېږي ودې شي، زه له هېڅ شي نه ډارېږم، عاشق له رسوایی، تحقیر او آن له مرګه هم نه ویرېږي.

ما نور د بام سر پرېښود، ډېرې ورځې وشوې په کور ناسته وم، ما وې ښایي دغه نومورکی زلمی زما له ازارولو لاس واخلي او پر خپلو کړو پښېمانه شي، خو وروسته وپوهېدم، چې هلك په خپل هوډ کې ټینګ دی، هغه یوه بله دسیسه جوړه ړه او زما له کورنۍ سره یې اړیکې ونیول. باید ووایم، چې موږ په کور کښې درې کسه وو، مېړه مې تر ماښامه په فابریکه کې و، خوابنې به مې په لنډې ځان له نږدې دوکانونو څخه کتغ او نوره اړتیا وړ سودا راوړله او زه به د کور پر کارونو بوخته وم.

لوچك زلمي له هغې سره انډیوالي واچوله، هغه یې مور بللې وه او ساده بوډۍ هم په زویولۍ ونیو، په څو اونیو کې یې ګران بیه او ارزښتمنې ډالۍ ورته راولېږلې، له موسم سره سم جامې، جاکټونه، ټکري او نور شیان یې د زویولۍ په حساب را استول. د خوابنې له خبرو مې پوهه شوم، چې هغه یې مور ته ورته څېره لري او په همدې لامل هلك خپله مور بللې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه تر ډېره نه پوهېدم، چې دغه هلك هغه لوچك ګاونډی دی، چې له جامو او لوب څیزونو مو ېي د ماشومانو لپاره استفاده کوله او میوې او ډالۍ به مو یې منلې.

ما وې څو میاشتې ووتې، اوس به هلك سوړ شوی وي، زما وروستۍ لفظي مشاجرې به پرې اغېز کړی وي او له خپلو ناروا وو به یې لاس اخیستی وي، یو ځل بیا بام ته وختلم او پر جامو مینځلو مې پیل وکړ، خو پردې نه وم خبره چې هغه د راندې موږك په څېر زموږ د غلې کندو ته لاره کړې ده.

میاشتې ووتې، کال نوی شو او له خپل برخلیکه مې په بې خبرۍ کې د خوابې د زوی ولې له ډالیو او سوغاتونو ګټه اخیستله، له ځان سره مې ویل، مور یې څومره نېك خویه او مهربان زوی راوړی، چې خوابې ته مې یوازې له خپلې مور سره ، ورته والي په سبب په لسګونو ډالۍ او سوغاتونه راوړي، له مور سره به یې څومره مینه وه او مور ېي بیا په دومره ښېګڼو ولې یوازې پرېښې؟.

خو سربېره پردې، کله به چې نوموړي سوغاتونه د مېوو او انګورو کرېټونه را استول زړه به مې یوه "ناخوداګاه" درزا کوله. ګاونډي مې نور له یاده وتلی و، تر دې چې یوه ورځ مې خوابې راته وویل:

لورې په ډېر کړاو مې رسول راضي کړ، چې زموږ کره راشي او زموږ په بلنه کې ګډون وکړي، ته لږ خوندوره ډوډۍ برابره که، زه به ېي راوبولم.

ما په حیرانتیا وویل:

مېړه مې څنګه؟ هغه به کله په دې کار خوښ وي؟ دعوت باید د شپې وشي، چې هغه هم موجود وي.

خوابې مې وویل:

نه لورې! هغه د شپې نه راځي.

که داسې وي، نو دده "مېړه" له اجازې پرته څنګه بېګا نه سړی کور ته راولو؟!

خوابې مې په هیله منه څېره وویل:

لورې هغه په هېڅ صورت هم نه راضي کېږي، ډېر سرتمبه دی، له ماشومتوبه لا دغسې ځېل ناك او ګوښه ناست دی، یوازې دی او کتاب، نه پوهېږم ولې ویرېږي، چې څوك ور ته نه راولي او نه هم پخپله د چا کره ځي. پلار یې تولیز سړی و، له ډېرو مېلمستیاوو یې تر پوزې راوستلې وم، هر وخت به مې ورسره جنګ و.

وروسته یې په ارزومند لهجه وویل:

لورې، هغه چې سهار کارته ځي او ماښام بېرته کور ته راګرځي داسې کار وکړه، چې هغه بېخي خبر نه شي.

د نوموړې له ارزومنې لهجې څخه، چې یوه نرۍ هیلې په کې رانغښتې وې اغېزمنه شوم، سربېره پردې، چې هغې ته مې له مېلمستیا د تېرېدو وویل، خو بیا یې په ارزومنه لهجه وویل:

لورې! هغه ډېر سرتېټی هلك دی، ما مور ګڼې او په دې تېرو څو میاشتو کې ي څومره ډالۍ راته راوړي دي او ماته چې مور وایي دومره هم نشم کولای، چې یوه خوله ډوډۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورکړم، په داسې حال کې چې څو ځله یې راته ویلي، چې موري نه شي کېدای ستاسو مېلمه شم او په اصطلاح ستاسو نمك خور شم.

هر ډول چې و، زه یې راضي کړم، چې مېلمستیا ومنم او مېړه مې له پېښې خبر نه شي، دا رومبی ځل و، چې د هغه په غیاب کې مې یو دغسې عمل کاوه، هغه هم د خوابنې په غوښتنه.

ښه خوندوره ډوډۍ مې پخه کړه، د هلك د پذیرایي لپاره مې پر ځان ګوتې ووهلې، کله چې د ژمنې وخت راورسېد، دروازه وټکول شوه، ټیټکۍ خوابنې په امسا سره ورغله، ور یې خلاص کړ او ما چې د پذیرایي دنده پر غاړه اخیستې وه لازمه مې وګڼله تر مېوو او نورو شیانو برابرولو وروسته د زلمي پذیرایي وکړم، ځکه خوابنې مې کمزورې وه او نه یې شوای کولای زما کارونه پرمخ بوځي.

د کارونو تر سمبالښت وروسته مې پر ځان لږ لاس وواهه او له پیالو او پتنوس سره کوټې ته ورننوتم، خو څنګه مې چې پر هلك سترګې ولګېدې، ومې پېژاند همغه لوچك ګاونډی دی.

پر غړو مې لړزه کښېناسته، اعصابو مې کار ونه کړ، چای جوش او پتنوس مې له لاسونو وغورځېدل، چاکلېټ، خواږه، چای او نور هرڅه پر فرش تویې شول، اکثره پیالې ماتې شوې هرڅه چې و ځان مې سمبال کړ او په منډه له کوټې څخه ووتم.

خوابنې مې په دې فکر، چې تصادفاً پیالې ترې پرېوتې او چای توی شو له زلمي ښښنه وغوښتنه او ژر پر پیالو راټولولو

لګیا شوه، چای او نور شیان یې د زلمي په مرسته سره سم کړل او پر چای څښلو یې پیل وکړ.

ما ځان سوځل پلمه کړل او بیا کوټې ته ورننغلم، د هغوی د کړس کړس خنداګانو او غورو پرځو غږونه مې اورېدل او پر زلمي مې د خدای لعنت ور استاوه، چې څنګه یې دغه بوډۍ ایل کړې او زموږ د کور سپېڅلي حریم ته یې ځان راننویست.

تر هغې وروسته زلمی په اونۍ کې یو دوه ځله زموږ کور ته راته، له ځان سره به یې زیاتره ګرانبیه ټوټې، د ماشومانو د لوبو سامان او د پېغلو د سینګار څیزونه راوړل، نوموړې به داسې څیزونه راوړل، چې له بوډیانو سره یې اړخ نه لګاوه او د پېغلو سره به جوړېدل.

ښایي خوابنې به مې یې اړ ایستله، چې دغه ډالۍ ماته راکړي، خو ما یې له رانیولو انکار او ډډه کوله.

د څو میاشتو په اوږدو کې رنګا رنګ سوغاتونه، ګرانبیه او انتیکو څیزونو او پیسو د بوډۍ زړه ایل کړ. هو! پیسو او شتمنۍ خپل کار وکړ، هغه بوډۍ چې شپه ورځ یې "الله هو" ویل اوس یې د پیسو په بدل کې هرڅه هېر کړل او زه، چې پر مقدساتو عقیده نه لرم، لامل یې همدغه ریا او ځانښودنه ده، چې د سر په سترګو مې ولیدل، ښایي ډېر داسې وګړي وي، چې دیني ارګانو ته پناه وړي او له خدای سره ریا او تظاهر کوي او کله، چې د مادیاتو پر لار سیخ شي دا هرڅه پرېږدي او د ځان د دوکې لپاره رنګارنګ ډلایل راوړي، ګومان کوي، خدای ج ته هم دوکه ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبري مې يې پرې کړې، ومې ويل:

مېرمن ښه نه ده، چې خپله خواښې بده او بې لارې وبولې، هغه دې د مور حيثيت لري، بده ده، چې خپله مور په غياب کې توهين کړې، دويم دا چې تاسو بايد ټول وګړي په يوه لرګي پورې ونه تړئ، ښه خلك هم شته، چې د ژوند له ناخوالو سره سره ټول عمر د خداى په عبادت کې تېروي او له ځانښودنې او د خلکو له سترګو لرې، خداى ته لاسونه اوچتوي او دوعا کوي.

په تاثر سره يې وويل:

صېب! ما دومره ناشکره او بدمرغه مه بولئ، خو دا ټولې بدمرغۍ د همغې بوډۍ د لاسه دي. ما هغه شپه هم درته وويل، چې رحم، زړه سوى، عشق دا ټول دروغ دي او ان د دې پير د خلکو د خداى پېژندنه او عبادت هم د دوکې لپاره دي او په اصطلاح يو پر بل خولۍ ږدي، خو چې کله پيسې او شتمنۍ ومومي، پرعکس چارې کوي، دا زما عقيده ده او باور پرې لرم، تاسو چې هر ډول فکر کوئ دا ستاسو خپل کار دى او ستاسو عقيده دوه اړخونه لري: يو دا چې تاسو ډېر خوش باوره او احساساتي ياست او يا خو مو تراوسه دغسې کوم غم او درد نه دى ليدلى، چې خلك د هغوى په اره بنه کې ووينئ.

* * *

وپوهېدم، چې نازنين کيسه پرېښوه او پر نورو لارو سر شوه، ومې ويل:

ـ ښه نازنين! تاسو وويل، چې نومورکې زلمي مو د کور سپېڅلي حريم ته لاره وکړه او بوډۍ خواښې دې يې ايل کړه!!

نازنين وويل: هو! هغه لوچك رسول نومېده، هرڅه چې و او په څومره بيه چې ورته پرېوته، زما د خواښې زړه يې وپېره او د هغه له امله زموږ د کور هرڅه بدل شو، فرش، لوښي، جامې، خوراك، څښاك، پوښاك او د کوټو ډيکورېشن او هرځاى ته به دې، چې سترګې اړولې، هرڅه بدل شوي وو، د زړو او له کاره وتليو شيانو ځاى نويو او انتيکو څيزونو نيولى و او دا نوښت ورځ تر ورځې زياتېده.

ترې ومې پوښتل:

ـ نازنين پردې دومره تغييراتو مو مېړه څه ونه ويل؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویې ویل:

_ مخکې مې وویل، چې خاوند مې پر کار مین سړی و او د کور چارو ته یې هومره پام نه و، خو ښایي خواښې به مې له دیني زویه خبر کړی وي او ستاینې یې هم ورته کړې وي، خو زه تر پایه پرې پوهه نه شوم.

ځان مې د مېړه له وېرې ګوښه کړی و، مېړه مې ورور او پلار نه لرل، د مور یې ډېر درنښت کاوه، همدا امل و، چې زما جرئت یې لوټلی و او د رسوال په اړه مې څه ویلو ته زړه ښه نه کړ.

ما ویل رسول که د پلار ټوله شتمنۍ هم بربادې کړي، زه به خپل پت او ناموس پرې ورنه کړم، پردې سربېره به مې تل خواښې ته ویل، چې ددغه هلک هدیې و ډالۍ مه قبلوه او کور ته یې مه راپرېږده، خو له همدې ځایه زما او خواښې ترمنځ مې درزونه ولوېدل، هغه روږدې شوې وه، رسول یې د کمزورتیا ټکی موندلی او د پیسو باران یې پرې جوړ وه، آن تر دې چې د پیسو دغه باران زما او خواښې ترمنځ په دښمنۍ او جنګ بدل شو.

زما تر ټولو ستره کمزوري زما بې باکي او کم رویي وه، کاشکې په هماغه رومبۍ ورځ مې مېړه له تیږو راغورځولو خبر کړی وای، خو د ځان د رسوایي او شرمندګۍ له امله مې مېړه ته څه ونشوای ویلی او غلې پاتې شوم.

زموږ شخړې ورځ په ورځ زیاتېدې، رسول به چې څنګه پر وره پښه کېښوده، بد او بې لاري به مې ورته ویل او زما دغه

سلوك پر پیسو مینې بوډۍ بداغېز کاوه. په اوونۍ کې به مو دوه درې ځله ژبنی جنګ کاوه، نوره تري تر پوزې رسېدلې وم، ورته ومې ویل، ای پستي پر پیسو مینې بوډۍ! زه به مې مېړه پر ټولو خبر کړم، چې له یوه لوچنك هلك سره یې راشه درشه اچولې، په زویولۍ یې نیولې او ګېنټه ګېنټه خلوت ورسره کوي.

ماښام مې، چې مېړه راغی رومبۍ یې د مور پوښتنه وکړه، هغې په ژړا او انګولا پیل وکړ، له مانه یې شکایتونه ورته کول، زه چې د خپلې کوټې او دهلیز ترمنځ وم، خبرې مې یې سمې نه اورېدې، نه پوهېږم د رسول سوغاتونه او ډالۍ یې په ما پسې حساب کړل او زه یې له هغه سره په عشق او عاشقۍ تورنه کړم او که څنګه؟ خو صیب! ما مخکې هم د خپل خاوند د سرتمبګۍ څه درته وویل، د مور په خبرو یو تکه اور شو او دغه اور سم لېونتوب ته ورساوه، کوټې ته یې رامنډه کړه، پرته له دې چې زما خبره واوري، دومره یې په لغتو او سوکانو سره وځپلم، چې له سده ووتم، که بوډۍ راځخه نه وای نیولی، اوس به د وخته له ژونده خلاصه وم، کاش مړه کړې یې وای او دغې بدنامې او د پت پلورنې ورځې ته نه وای کښېناستلې.

مېړه مې خپله بستره، په همهغه شپه د مور کوټې ته یووړه او سهار وختي له چای څښاك مخکې کارخې ته ولاړ.

زه بې ګناه وم، د خواښې په شیطانت مې سخت وهل ټکول خوړلي و، نور مې زغم پای ته ورسېد، کوټې ته یې ورغلم ښه مې ورټله، زموږ دغه سوړ-تود جنګ تر ډېره دوام وموند.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ورځې به مې خوابې کور پرېښوده او پوهېدم، چې د رسول کره به ورځي، څو اونۍ مې خاوند د مور په کوټه کې ځملاست، نور مې زړه تنګ شو، غوښت مې له کیسې یې خبر کړم، مابنام چې څنګه راغی، تر خوراك څښاك وروسته یې کوټې ته ورغم، خو ومې لیده، چې په بیړه یې مور راغله، یو ځل یې بیا په ژړا او ښکایتونو پیل وکړ، زوی ته یې وویل څنګه چې ته سهار له کوره وځې، دا هم کور پرېږدي او نه پوهېږم بهر څه کوي؟ له همدې امله زما خبرې کونګې پاتې شوې او یا خو یې غوږ نه ورته نیوه، مور یې لکه ماته مېچن لګیا وه، مېړه مې د خوابې پر خبرو باور کاوه، زما ژړا او بدې ورځې پرې اغېز ونه کړ، تر دې چې ورته ویې ویل که باور نه کوې ورشه صندقونه یې ولټوه، چې د رسول څومره سوغاتونه پکې سمبال شوي دي.؟ مېړه مې سره لمبه شو، یو دم پورته شو او زما له کوټې یې د مور په اشاره داسې تکې او نور ګران بیه شیان راوړل، چې زه یې په لیدو هکه حیرانه شوم.

وروسته څرګنده شوه، چې رسول زما تر بې اعتنایي وروسته زما د طلاق لپاره لارې چارې لټوي، څو جنایتکار لاسونه سره یوځای شوي وو او زما د ژوند ګلان یې رژول. ما له هغوی سره هېڅ بد نه و کړي، پر خپل پت مې ویاړ کاوه، صېب په دغسې حالاتو کې زه څنګه پر چا اعتماد وکړم، دا ستاسو خوښه، چې منئ یې او که نه، خو زه پخپلو خبرو کې مبالغه نه کوم، دا حقیقت دی.

ومې ویل:

ـ منم، چې دا کار به شوی وي، اوس اوبه له ورخه تېرې شوې او درواغو ته به اړتیا هم نه وي، خو دا ووایه، چې خاوند دې د دې ټولو شیانو پر لیدلو څه غبرګون ونه ښود او بل دا چې ته خو له کوره نه راوتلې، نو خوابې مو څنګه صندوق ته سامان اچولی و؟

ـ صېب! لکه چې زه د جامو مینځلو لپاره بام ته ختلم او تاسو پوهېږئ، چې جامې مینځل دوه درې ګېنټې وخت اخلي، بوډۍ به ژر ژر د رسول په لارښوونه دا کار کاوه، په دغه وخت کې دوی هرڅه کولای شول.

ومې ویل: وروسته څه وشول؟

ځواب یې راکړ:

ـ مېړه مې سم لېونی شوی و، له وینښتانو یې نیولې وم او په انګړ کې یې څکولم، مخ، لاسونه او ټول بدن مې په وینو لړلي و، کودې کودې وینښتان مې یې شوکولي و، سهار چې راوېښه شوم، همغه بوډۍ مې سرته ناسته وه، هره ورځ به مې ژړل، په هغه څه واوښتم، چې په کړنې به مې یې وېره او ډار درلود.

مېړه مې تر دې وروسته کور پرېښود، په فابریکه کې یې پلمه کړې وه، چې لاره اوږده او کور ته نشم تلای. د خپل وړتوب په حساب رئیس کوټه هم ورکړې وه.

ما ډېرې وزځې سوچ وکړ او د خپل خاوند پر کرکتر پوهېدم، چې بیا به کور ته رانشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اونۍ وروسته مې خوابې کوټې ته راغله او په پخلاینې سره یې وویل:

_ ټول ستا له سرتمبګۍ نه داسې وشول، تا که زما دینې زوی بد بې لارې نه بللی، داسې به نه کېدل، وروسته یې وویل:

_ اوس هم وخت نه دی تېر، له خره نه راکوزه شه، زما خبرې واوره هرڅه به سم شي، هغه ورځ دې چې رسول زما ترمخ وکنځه، پر ما هم غوسه و، خو پرون مې په کوڅه کې ویده، سره پخلا شوو، وې سبا ته به دواړې ډوډۍ ته راځي.

په غوسه مې ورته وویل:

_مکارې بوډۍ!! ته نه پوهېږې، چې هغه دا سوغاتونه او ماشومانو ته سامان په څه خاطر راوړل؟ او ولې یې پر تا پیسې شیندلې؟

خبرې مې یې ونیوله، ویې ویل:

_اوس منښت کوې، چې څومره خرڅې هلك دی!!

ومې ویل:

_سپېرې، بدمرغې! دا پیسې او ډالۍ څوك چاته وړیا نه ورکوي، نه غواړې وپوهېږې هغه بده اراده لري، ښه پوهېږې، زما د تباهۍ لارې دې د هغه په لارښوونه جوړې کړې دي.

ویې پوښتل: څه مطلب؟

ځواب مې ورکړ:

_ ښه پوهېږې، خو ځان ناګاره اچوې، هغه غواړي ستا د یوازینې زوی پت او ناموس وڅیري، هغه زما ښکلا ته سترګې

نیولې، دا پیسې او سوغاتونه تا مردار مخې ته نه راوړي، مطلب یې زه یم... او ما تراوسه مقاومت وکړ، پرېږده چې د زوی ناموس دې وپالم، پیسې او سوغاتونه دې وګټم، نور څه غواړې؟ بس دی اخر خدای ته خو به هم ورځې، هغه ته به څه ځواب وایې؟ په دې زړېوډۍ کې دې نګور بې پته کړه او مېړه ته دې بې عزته وروپېژندم، اخر ستا هغه عبادتونه او سل دانه یې تسپې څه شول؟ تر دې خو دا ښه ده، چې د خدای پرځای د رسول ذکر وکړې.

صېب په ډېره هیله منه لهجه یې وویل، چې ما هغه ته قول ورکړی، چې مېلمستیا ته به درځو، هغه به مو انتظار باسي.

ورته ومې ویل:

_تا خو په زویولۍ نیولای، نو ما څه ته ورولې؟

په ډېرې سپین سترګۍ سره (چې د یوې حرفه یې ښځې څرګندونه یې کوله) وویل:

_رسول ټینګار کړی، چې تا هم راسره بوځم!

ومې پوښتل:

_زما په ورتګ ولې ټینګار کوي؟

ویې ویل:

_ ولې لورې! تا خپله وویل، چې هغه مینه درسره کوي، عاشق دې دی، وایې شپه ورځ ارام نه لرم.

په حېرانتیا مې ترې وپوښتل:

_ ته حاضره یې، چې د زوی پت دې وپلورم؟

ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

_ څه پروا، هغه له تا سره ډېره مینه کوي او که نه ډېر زر به ځان ووژني او خون به یې ستا پر غاړه وي.

ومې ویل:

_ اوس خو سمه څرګنده شوه، چې ته یې دلاله او یوه کسبي معامله ګره یې، د خپل زوی پر ناموس هم صرفه نه کوې او لا ما اړ باسې، چې ځان د رسول غېږې ته واچوم. همدا غواړې، که نه؟!

وې څه فرق کوي، لورې!

ومې ویل:

_ اسمان او ځمکه فرق کوي، یوه پاکلمنې او سپېڅلې ښځه، چې په خپل ژوند کې یې له بېګانه سره یوه خبره هم نه ده کړې او ته هم پرې پوهېږې، اوس د څو ناڅیزه پیسو په خاطر بې ناموسۍ او بې پتۍ ته رابولې.

یو ځل په قار شوه ویې ویل:

_ ډېر ناموس ناموس مه یاداوه، سردې راباندې وګرځاوه، که راسره لاړه نه شوې، والله داسې کار درسره وکړم، چې له مرګه پرته به دې بل دارو نه وي. وغرېده، د مېړه امانت! مېړه دې که مینه درسره لرلی یوې خبرې ته خو به دې یې غوږ ایښی و، د سپۍ غوندې یې ورتلې او که ما ترې خلاصه کړې نه وای، اوس به لا د وخته د مرګ په خوب ویده وای.

زما یې اوس اصلي خبرې ته پام شو، انسان نه و، یوه زړه سواندې مور نه وه، له احساسه بې برخې وه، هیولا وه، چې ژوند لوټلو ته مې ناسته وه. له سترګو یې د بې حیایۍ،

وحشت او ځناورتوب رنګ توئېده، څو کاله مې ورسره تېر کړي و، خو تل مې پر سجده او تسپې اړولو لیدلې وه، ما وې ناتوانه او دینداره ښځه ده، خو اوس مخامخ یوه هیولا او وحشي بوډۍ ولاړه وه، اوس یې ډېرې ورو خبرې هم اورېدې، کټوب یې ورک شوی و او د څوارلس کلنې جنۍ په څېر اکټونه یې کول.

صېب باید ووایم، چې له مېړه او ماشومانو سره مې تر ځان زیاته مینه کوله او ددغې بوډۍ مې هم خیال ساته، چې ناتوانه او بوډۍ ده، ګوندې په خدمت او چوپړ دوعا راته وکړي او راضي واوسي.

خو له هغې شپې راوروسته، چې مېړه مې خبرو ته غوږ ونه نیو او د مور په خوله یې پر ما برید وکړ او که مور یې ترې ژغورلې نه وای، مړې چغې یې راباندې ایستلې، له هغه مې کرکه راغله، کله یې چې بستره هم ورټوله کړه او د مور کوټې ته ولاړ کرکه مې ورځ تر ورځې زیاتېده او مالـه مېړه پرته څوک نه لرل، چې د ژوند په ستونزو کې اوږه راکړي، خو هغه مې هم خبرې اورېدو ته چمتو نشو، حتی دومره یې هم راڅخه ونه وپوښتل، چې د خوانې خبرې دې رښتیا دي او که څنګه؟ او ولې زما تر تګ وروسته بهر وځې؟!

همدا لامل و، چې زه هم د عقدې او کینې څخوبې ورواخستم او ورځ تر ورځې یې پراختیا موندله، وایې د ښځو غوسه نړۍ ته اور اچوي، که ما نړۍ ته اور نشو اچولی او یا مې یې توان نه درلود، لږ تر لږه خوسان ځان ته واچاوه او خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library

پت او ژوند مې د اور خوراك کړ، وجود مې هېچا ته آن لاخپل مېره ته هم د ارزښت وړ نه و.

بوډۍ، چې کله رسول ته د ورتګ بلنه راکوله، عقل مې توی شوی و او د لېونتوب ځپو اخیستې وم، ورته ومې ویل:

ـ ای ناولې بوډۍ!! زه کولای شم اوس دې ستونی درغوځ کړم او له ژونده دې خلاصه کړم، خو زه دغسې نه کوم، زه غواړم ته ژوندۍ وې او د خپلو کړو سزا پخپله ووینې، ته باید ونه مرې او یوه لایقه وړ سزا ومومې.

پخې پتیرې واوره! زه د هغوی کره نه ځم، هغه دلې راوله، ما پتې یلې، چې د زوی ناموس دې همدلته ستا ترمخ وپلورم، ډېرې زارۍ یې وکړې، چې هلته ورشو، خو ما یوه بله نه کړه او اخر مجبوره شوه رسول کور ته راوغواړي.

ځان مې ښه سینګار کړ، د هغه راوړې جامې مې واغوستې او نور ډول ډول شیان مې وکارول، وروسته مې رسول ته هرکلی ووایه او ورزیاته مې کړه:

رسول جانه! د زړه سره رښتیا چې ستا هوډ کلك او پرېکنده و، تا لوبه وګټله او زه ستا په واك کې یم، خو په دې شرط چې ټول کار به ددې ناولې ترمخ کوې، ورته ومې ویل کاربه په داسې حالل کې پیلوې، چې سر مې د بوډۍ په غېږ کې ایښی وي.

رسول او بوډۍ که هرڅو زارۍ وکړې، ما ونه منلې. رسول اړ شو بوډۍ دغه کار ته راضي کړي او لاسونه یې له پیسو څخه وړك کړي. رسول هم د شهوت ځواك د انسانیت له

چوکاټه ایستلی و، بوډۍ غلې شوه او د تمایل څرګندونه یې وکړه، ما یې پر لاسونو برید وکړ او ټولې پیسې مې ترې قاپ وهلې، رسول ته مې ووي نورې بوډۍ ته پیسې ورنه کړې او که څه دې ورکړي و، مړې چغې به دې دروباسم، دا څو کاله یې ډېرې مزې وکړې اوس زما وار دی.

خندني مې وویل:

ـ رسول جانه! نن خو په اصطلاح د وصل ورځ ده، ماته به څه تحفه راکوې؟ د سرو زرو غاړه کې، چارګل، الماسینه ګوتې، څه شی؟ له هغې پرته خو نه تسلیمېږم، ځکه ښځې هرومرو جهیز اخلي!

رسول زر له ځایه پاڅېد، وې په سترګو نازنین!

لږ ځنډ پس له یو شمېر طلایي ګوتیو، غاړه کې او نورو څیزونو سره راغی، ښایي هغه یې هم له موره په میراث ورپاتې شوي وي، شیان مې ترې واخیستل او په ویاړ مې وویل:

ـ د بوډۍ د زوی د پت بیه مې واخیسته، اوس سمه شوه، جهیز مې پوره کړ.

صبب هغه مهال پرځان نه پوهېدم، ما وې د کالبوت په قالب کې مې کومه بله هرکاره ښځه راننوتې او لاري چارې رابښیي، خو دا ټول زما د عقدې، کینې او بې باکۍ له امله و، ګنې ما چېرې دومره جرئت درلود، چې دغسې حرکات او خبرې وکړم.

وروسته مې بوډۍ اړه کړه، چې پر ورنونو یې سر کښېږدم او رسول خپل کار پیل کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په رومبي ځل، چې رسول زما پر وجود لاس واهه، ځان يې راباندې راپرې ايست او سر مې د بوډۍ په غېږ کې و، له سترګو مې د الماسو په بيه د اوښکو دوه رڼې څاڅکې راوڅڅېدل، په حقيقت کې دا زما پت او عزت و، چې په دې ډول مې له لاسه ورکړل، خوابښې مې چې ښايي له دې کاره به يې خوند اخيست، جارو قربان ويل او زياته يې کړه:

ـ لوري مه ژاړه!

پرې وربرچ مې وهل:

ـ لعنتي بوډۍ! دا ژړا نه ده، بايد وپوهېږې، چې دا مې هغه پت او ناموس دی، چې د وروستي ځل لپاره رانه خدای پاماني کوي. نه دې دې وربدلي يو مشهور متل دی وايي"ددې ښځې سترګې څېرې شوې دي" دا همغه د سترګو اوبه دي، چې د حيا پردې ورسره وشلېدلې.

په همدې ترڅ کې رسول يوه اونۍ، مياشت او تر څو کالو وروسته له مانه مور شو او خوابښې ته مې يې وويل، ته اوس مجبوره يې کوم بل هلك په زويولۍ ونيسې.

اوس نو زه څير سترګې شوم، يو ځل چې د ښځې عفت له مينځه لاړ شي او نامحرمه پرې ورځملي، نور نو په يو او دوو قناعت نه کوي، لکه چې وايي"اوبه له سره تېرې شوې، څه يوه نيزه څه سل نيزې" او د وخت په تېرېدو سره عادت مومي.

صېب! له تفصيلاتو به تېر شوو زړه مې نور چوي، لنډه دا چې رسول لاړ او پرځای يې نور کسان راغلل، چې پيسې يې تر رسول کمې، خو تکليف يې زيات و.

کور مو په فاحشه خونې سره مشهور شوی و، تر دې چې ګاونډيانو مې خاوند ته شکايتونه وکړل او هغه هم خپله طلاق پاڼه راواستوله، وروسته خبره شوم، چې خپله مور يې هم غرېبجنه (خپه) کړې او وژلې يې ده. زه تر طلاق اخيستلو وروسته له يوه ملګري سره ښار ته راغلم او کور مې پرېښود.

نازنين له خبرو په شا شوه، شونډې يې سره وګنډلې او زه يې د ژوند ه خواشينوونکي سرګذشت څخه خبرشوم.

يو دوه کاله وروسته ښار ته بيا په سفر راغلم، د نازنين لپاره مې له ښاره ښايسته او ښکلې ډالۍ راسره واخيستې، د وره پر زنګ مې ګوته کښېښوه، د نازنين پرځای يوه بله ښځه، چې د نازنين د ښايست ګرد هم نه و، راووته، ترې ومې پوښتل نازنين چېرې؟

بې تفاوتانه يې وويل: هغه خو لهونۍ شوې وه، له اپارتمان نه يې خان اچوی و او خای پرخای مړه شوه، وايه، خدمت ته مو چمتو يم

ډېر خواشينی شوم، له هغې مې مننه وکړه او له سوغاتونو سره يوخای بېرته راستون شوم.

* * *

د ژوند په دې کيسه کې څوک اصلي مجرم دی، نازنين؟ رسول؟ خوابښې؟ مېړه يې؟ او که زمانه او مادیت؟! دغه پرېکړه به ګرانو لوستوالو ته پرېږدو، چې د خپل وجدان په محکمه کې تر غور او سوچ وروسته مجرم وپېژني او محکوم يې کړي.

پای

(c) ketabton.com: The Digital Library

Nazaneen

Noval

نذیر احمد سهار، د چگرن مسیر احمد زوی، په قام مسعود.
زوکړه: ۱۳۶۰ ل
زده کړه: قیس بن سعد لیسه، اسلامي پوهنتون طب پوهنځی،
افغان پوهنتون او کابل پوهنتون، د ژورنالیزم پوهنځی.

- دلونګو ځوندی، شعري غونډ (چاپ)
- هغه لیونی ده، دلنډو کیسو ټولګه (چاپ)
- د مسافرودې خدای مل شي، تذکره (چاپ)
- د سروزرو صندوق، لومړی ټوک (چاپ)
- د سروزرو صندوق، دوهم ټوک (چاپ)
- د سروزرو صندوق، دریم ټوک (چاپ)
- د بشري حقوقو بنسټیزې لارښوونې (چاپ)
- نازنین، همدا اثر
- شیطان په پرېوتو کې، ناول (چاپ ته تیار)
- د سپوږمۍ په غیږ کې، شعري جوګ، ترچاپ لاندې
- معلومات حیرت انګیز، په دري ژبه عامه معلومات
- د بخې روان پېژندنه (ژباړه)
- ژورنالیستیکي ژانرونه (ژباړه)
- تلویزیون ستره پرده (ژباړه)
- د نړۍ عجایب

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library